# له کوټله تر کابله

(یونلیک)



فیروزخان صادق

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# له کوتله تر کابله

## ( د کابل یونلیک)

فیروزخان صادق

۱۳۹۴ل کال

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: له کوتله تر کابله

لیکوال: فیروزخان صادق

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۳۳)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

ketabton.com - The Digital Library

# د پښتنو د لوی کور افغانستان پر لور یو سفر

ښاغلی فیروزخان صادق نه یوازې یو ښه شاعر، ژورنالسټ، کالم لیکونکی، ریډیو پاکستان کوهاټ کې اوونیزه خپرونې پیشکوونکی، یو ښه انسان، دکوهاټ د بابرې بانډې اوسېدونکی، د کوهاټ د سیمټو کارخانې کې یو مزدورکار، یو محنت کش انسان ، یو خوداره سړی، په دې ټولو خوبیو باندې په رښتیا فیروزخان صادق دی، د پښتنو لوی کور افغانستان ته کوم سفر د استاد اسماعیل یون او د افغانستان د ملي تحریک په بلنه کړی وو ، د هغې ډېر حال احوال دوی پخپل یونلیک کې بیان کړی دی، هسې خو هغه ټول ملګري چې دوی سره په سفر کې شریک وو ، هغه د دې سفرسلطاني ګواهان دي، خو زه یې پکې په ګواهۍ ورکولو کې ډېر باوري ګڼلی یم، نو ځکه یې ماته په دغه یونلیک د څه لیکلو وړاندیز کړی دی.

د ټولو نه وړاندې به د سفرنامې (یونلیک ) په هکله یو څو خبرې وکړو ، حمید وصال چې د انجمن ترقی پسند بنو په یوه غونډه کې کوم لیکچر ورکړی دی ، د هغې نه یو څو ټکې ستاسو په حضور کې وړاندې کوم، هغوی وایي؛ چې ژوند پخپله یو سفر دی، سفر د حرکت نوم دی، چې مختلف اړخونه لري لکه جسماني سفر، ذهني سفر، معاشي سفر، د انسان په فطرت کې

ketabton.com - The Digital Library

بې چېنې ده او د خپلې بې چېنۍ په سوب انسان په یوه ځای کې تم شوی نه دی، سفر ډېر زیات افادیت لري، چې د انسان په تجربه او مشاهده کې اضافي کوی او سفر کونکی چې د سفر نه بېرته راشي، نو خپل کلي او قام ته نوې نوې خبرې راوړي او د مختلفو ملکونو او وطنونو د تهذیب، ثقافت او روایاتو نه خپل خلک خبروي، پښخوا به د لیک لوست د نشتوالي په سوب سیلانیانو د خپل سفر حالونه په زباني توګه خلکو ته ویل او د دې نوو نوو خبرو په بنیاد نړۍ د ترقۍ او سنۍ پوړۍ ته رارسیدلې ده، نو د انساني ترقۍ په دې عمل کې د سفر ډېر لوی لاس دی، انسان به اول په پښو یا په څاریو سفر کولو او هغه یو قسم د ستړیا سره مخ و، نو هغه ګاډۍ ایجاد کړو او بیا د سفر د نورو اسانولو د پاره یې جهاز ایجاد کړو او دا نن چې جهازونو په سوب انسان خلا ته ورسیدو، دا ټول د سفر کرامات او کرشمې دي. ده وویل چې وړاندې به سفرنامه تش د تاریخ او جغرافیې حصه ګڼلې شوه، سفرنامه نګار به چې څه ولیدل، نو د فوټوګرافر په شان به یې خوندي کول، خو نن د سفرنامه نګار پښخپله په سفرنامه کې شامل وی، اوس د ده مثال د فوټو ګرافر نه بلکې د انځورګر(مصور) دی، اوس دې پکې د خپلې مرضۍ رنګونه هم اچوي او خپل تجربات او مشاهدات او احساسات هم پکې ځایوي او ددې په بنیاد سفرنامه په تخلیقي صنفونو شمیرلې شي؛

ketabton.com - The Digital Library

مخکې لیکې؛ چې ترڅو پورې چې پښتو کې د سفرنامې د لیکلو د روایت خبره ده، نو پښتو کې اولنۍ سفرنامه د خوشحال خان خټک منظومه سفرنامه سوات نامه ده، چې د سوات ښکلي مطالعه پکې وړاندې کړې شوې ده. دویمه سفرنامه د عبدالرسول د کشمیر یادېږي چې نایابه ده، د ابن بطوطه سفرنامه میاعمرالدین په ۱۹۰۸ م کې ژباړلې ده، د مرزا دوست محمد سفر نامه سراج الحج په ۱۹۱۱ م کال د میا محمد یوسف د فرائض حج او د نصرالله نصر د امب سفر په نوم سفرنامې هم یادولې شي. د هند د آزادۍ د تحریک په لړ کې چې کومې یادې سفرنامې مخې ته راغلې دي که څه هم چاپ شوې وروستو دي، هغو کې د خدائی خدمتګار سره تړلی یا د عبدالاکبر خان اکبر سفرنامه د روسی ترکستان او افغانستان سفرنامه چې ۱۹۵۸م کال کې چاپ شوی ده او د میا اکبرشاه د آزادۍ په تلاش چې ۱۹۶۰م کال چاپ شوې ده، د پښتو د ادب حصه ګرځېدلې دي، د باچا خان زما حج سفر نومې سفرنامه په ۱۹۲۲م کال کې لیکلی شوی ده، خو چاپ شوې وروستو ده، د حمزه بابا نوم په پښتو ادب کې ډېر معتبر دي، څلور سفرنامې يې پښتو ادب ته ورکړې دي، دې کې د کابل سفرنامه (منظومه) ده، بله يې نوی پښتون په نامه په ۱۹۵۷م کال چاپ شوې ده، چې دا هم د کابل سفرنامه ده، د حجاز په لور نومي سفرنامه يې په ۱۹۷۰م کال کې چاپ ده او د چوړ سفر يې په رهبر نومي مجله

ketabton.com - The Digital Library

کې قسطوار چاپ شوی ده. پښتو کې د حج په سفرونو ډېرې سفرنامې ليکلې شوې دي، د ذکرشوو نه پرته د سيد ضيا جعفری، حکيم عبدالوهاب خرکی، سيد جعفرحسين رښتونی، مياعبدالرحمان لوګی، قندهار آپريدې سفرنامې د يادولو وړ دي، د سيده فانته بيګم زما سفرنامه چې پاک و هند نه علاوه يکې د افغانستان او يورپ سفرونه هم شامل دي. د پښتو په يادو سفرنامو کې ذکرکېږی، د طاهر آپريدي سفر پخير ۱۹۸۵م کال او سفر مدام سفر ۱۹۸۰م کال په نومونو دوه سفر نامې چاپ دي، د آسير منګل د اماراتو سفر، د محمود آياز ديدن نه ناوخته راغلو، د افضل شوق اووه ګامه مزل او سفر په واورو، د محمد سراج پيښورنه کلکتې پورې چې هغه د غه سفر د سوبهاش چندربوس د سل کاليزې په پروګرامونو کې د ګډون کولو په غرض کتابي شکل کې راغلي دي، دې نه علاوه محمد نواز طائر د حاتم طائي سفرنامه هم ژباړلې ده، چې په ۱۹۸۹م کال کې شائع شوې ده.

دا وو د سفرنامو يو لنډيز چې حميد وصال ډېر په کړاو راغونډ کړې وو.

دا د کال ۲۰۱۳م کال د مارچ مياشتې واقعه ده، چې د افغانستان د ځوانانو ملی تحريک او د ژوندون تلويزيون د استاد اسماعيل يون په بلنه موږ يو ځو ادبي ملګري د کوهاټ نه سحر وختي روان شو، عبدالرحمن افغانيار، فيروزخان صادق،

ketabton.com - The Digital Library

ډاکټر صابر شینواری، جان محمد زرګر، شیررحمن بیتاب راسره ملګري وو، طورخم ته په ډېرو کندو کپرو ماسپښین ورسیدو، د لوی کور افغانستان د سفر دومره تلوسه وه، چې د سفر کړاو راته داسې نه ښکاریدو، چې ګوندې مونږ ډېر په تکلیف راورسیدو، بیا هغه وخت خو زمونږ ټوله ستوماني ووتله چې کله د طورخم په برید راته د سترې مه شئ لپاره استاد اسماعیل یون صیب پوره پوره بندوبست کړې وو، د ګمرک لوی رئیس راته دومره تود هرکلی اووی، چې داسې ښکاریده چې لکه مونږ خپل کور ته راغلی وو او حقیقت هم داسې ده، چې د دربو ورځو په استوګنه کې مونږ دا نه دي محسوس کړي، چې مونږ مسافر یو بلکې داسې مو شمیرلی ده، چې د سحر کور نه ورک ماښام کور ته راغلي یو، په ګمرک کې راسره حسینه ګل، وارث خان نایاب، شاهد الله احساس هم ملګري شول، هلته د چارواکو سره د دواړه هېوادونو په هکله تاوده بحثونه وشول، خو غم او خوشحالي مو یوه ده، د یو بل ټکونه مو پیغور نه دی ګڼلی بلکې دا مو د یو بل شریک غم ګڼلی، چې څنګه دا ګمرک نه په فلائینګ کوچ کې کیناستونو سمد ستي ډاکټر صابر شنواري د افغانستان د بېلابېلو سیمو تاریخي معلومات رابرسیره کول شروع کړل، ان ترخاص کابل ښار پورې دوی به د هرې علاقې تاریخي حوالې بیاناوه، داسې محسوسیده لکه د افغانستان د تاریخ یوه غږیدونکې

ketabton.com - The Digital Library

انسائیکلوپیډیا مونږ سره روانه ده، هر لمحه به مونږ د هرې سیمې تاریخ پخپلو سترګو لیدو، په ټوله لاره ځای په ځای لوی لوی هوټلونه جوړ شوي وو، د بهرنیو ملکونو اوبه، شربتونه، خوراکي څیزونه او د مسافرو د پاره ټولې آسانتیاوې موجودې وې، خو د افغانستان روایتی ترخې چای به ډیرې کمې ملاویدې، خلکو به د الوګانو چپس، پکوړې، دیخ شربتونو بوتلې ډیرې خوښولې، هلته د ځایي اوبو په ځای به د بهرنه راغلی اوبه زیاتې خوښولې، وجه ئې دا وه، چې د خلکو اقتصادي حالات هم ښه شوی وو، بله دا چې د کابل خپلې اوبه د استعمال نه وې، د کابل ښار دا سې ښکاریدو لکه مونږ چرته یورپ ته راغلی وو، موسم دا سې خوندور وو چې شپه مو ډیره په آرام تیره کړه، سحر وختی په لوی هوټل کې ډیر منظم سمینار وو، ۲۹ لیکوالانو او منورینو خپلې ویناګانې وکړې، هر چاته به یو ټاکلې وخت ورکول کیدو، زیات نه زیات لس دقیقې او که چا به خبره اوږدوله، نو د بنداړ کورډ به ورته غږ ورکړو، ډیرې لوی لوی سکالران پکې د افغانستان د ګوډ ګوډ نه رابللی شوی وو او دا سې دا سمینار ډیر په منظم ډول پای ته ورسید، د غرمې ډوډی انتظام شوی وو، هلته چې خلکو مونږ ته کومه مینه راکړه، تر اوسه مې هغه نه هیریږی، بیا د ژوندون ټیلویژون ته راغلو، د اسماعیل یون میرمنې د ماښام د ډوډی کړې وه، دویمه ورځ د کابل ښار په سیل اووتو، ډیر تاریخی ځایونه مو

ketabton.com - The Digital Library

اوليدل، خو ما چې هلته د ځوانانو هلې ځلې وليدې نو دا مې محسوس کړه، چې راتلونکی وخت کې به د ځوانان د هيواد واګې سمبالوی،هر ځوان دوه دوه نوکرۍ کولې، ليک لوست هم کوي، د نوو رسنيو سره کلکې اړيکې لری ، د نړۍ په سياست ښه پوهه لری، د پښتو سره په انګليسي هم ښه عبور لري، زړو افغانانو په مخونو د زوړ افغانستان ښې ښانې جوتې ښکاريدې، د پنځه ديرشو کالو د خارجی يرغل او داخلی جنګ باوجود هم د ولس د ځوانانو ارادې ډېرې لوړې ښکاريدې، د ملی تحريک په کوششونو ځای په ځای د چوکونو نومونه د پښتنو اتلانو په نوم ليکلی شوی وو، سره د دې چې وخت په وخت ورته ډېرې ستونزې مخې ته راغلې وې، خو دویددې هيڅ پروا نه ده کړې او خپل مرام ته يې ځانونه رسولي، په کابل ښار کې ډېرې لويې لويې هوټلې، مارکيټونه، شادی هالونه، پلن پلن سړکونه، د نوو نوو ګاډو پکې درز دروز داسې منظر پيش کولو لکه دلته هر ورځ وادونه کيږی، امن وامان پکې ډېر وو ، خو بيا هم پوليس ځای په ځای د هر قسمه پيښنو ته تيار ولاړ وو ، درې ورځې مونږ داسې تيرې کړې چې سحر او ماښام به چرته نه چرته يو نه يو بنډار وو ، دا هر چا دا خواهش وو بلکه ډېره مينه وه، چې دوی غوښتل چې مونږ پخپلې ميلمستيا ونمانځی خو وخت به مونږ ته اجازه نه راکوله، داسې درې ورځې تيرې شوې لکه خوب،زمونږ ملګرو

ketabton.com - The Digital Library

خپلې خپلې کډې وتړلې، بيرته خپلې خړې پختونخوا ته روان شو، او داسې چې تر اوسه پورې مو هغه مينه هيره نشوه کومه چې مونږ د ځان سره راوړې وه او يوه ملامتيا ځان سره هغې سيمې ته راوړه، چې دا افغانان ورونه مونږ ته څومره د قدر په نظر ګوري يعنې بيخي د ورونو په سترګه او زمونږ سرکار ورته د ترهه ګر په نظر، دلته مې زړه ډېر خراب شو، او ترڅو چې دا رويه او انساني تذليل وي، نو د دواړو ملکونو يوبل سره اړيکې امکان نه لري، چې هغه د ورولۍ رشته دوام ولري، حيران په دې يم چې دواړه هيوادونه يو بل سره دومره تړلي دي، چې د ښه او بد تاو يې يو بل ته خامخا رسي، خو په پاکستان او افغانستان دواړو کې داسې قوتونه شته چې هغوی هيڅکله د دواړو هيوادونو تر مينځه کلکه ورولي او مينه قائم و دائم وي، په دې کې هيڅ شک نشته چې بهرني او داخلي قوتونه هميشه داسې کوششونه کوي، چې د دواړو هېوادونو تر منځ داسې کړکيچن حالات روان وي، دا دغه ناوړه کار غندنه يوازې په دعا نه بلکه دوا پکار ده. بايد دلته يو خبره ورزياته کړم چې پښتون په دې سيمه کې د ټولو نه آرزان څيز دې او بهرنيو قوتونو ته د داسې قام ضرورت وو کوم چې دوی ډېر په آسانه استعمالوې شي، نو ځکه هره لوبه د دلته شروع کيږی، د مثال په توګه د پاکستان د کرنسی په نوټونو کې د ټولو نه کم نوټ د لسو روپو دې په کوم چې د باب خيبر تصوير چاپ شوی دی او د

ketabton.com - The Digital Library

زرو په نوټ د قائداعظم د قبرتصویر دې او هم دا رنګې د پنځه سوه نوټ باندې شاهی جمات تصویر دی، د دې مطلب نور څه کیدې شی چې د ټولو نه آرزان بیعه پکې پښتون دی چې په لسو روپو هم آخستلې شی.

د تیرو څو لسیزو راهیسې دا هرڅه مونږ پخپلو سترګو ګورو او وینو خو دا چې دا څه کیږی او څوک یې او ولې یې کوي، د دې نه مونږ ښه خبر یو خو که څه وایو نو وئیلې نشو، که څه ووایو نو بس دومره چې د داخلي او خارجي قوتونو تر مخه یوه موخه ده، هغه مو ده چې پښتون قام په معاشي، سیاسي، معاشرتي او مذهبي توګه دومره په کړکیچونو آخته کړي، چې د مخ په تلو لارې ګودرې ورنه خطا کړي، د دې مخنیوي د پاره مونږ سره هیڅ داسې قوت نشته چې مونږ ترې خپل ځانونه او راتلونکی نسل وژغورو، هغه د سلیم استاد شعر دی چې:

پښتو کوڅه په کوڅه ګرځي پښتانه لټوي<br>
پښتون ترمخ په وړاندې ځي چې ما دې نه لټوي

اعجاز خټک<br>
دلاچې<br>
۲۲.مې ۲۰۱۵ م کال

ketabton.com - The Digital Library

# له کوتله تر کابله

انسان د ازل نه په سفرونو او تېپالونو مئين راروان دی يا داسې به ووايو چې سفر او تګ راتګ د يو انسان ضرورت دی. هم دغه وجه ده، چې انسان د هر نوي سفر نه خوند اخلي او د سفر ډېرې پيښې او واقعات چې بيا کله په ليک کې محفوظ کوي، نو دې ته بيا راپورتاژ ويلې شي، خو دغه ليک د سفر د بشپړه معلومات ولرى نو بيا سفر نامه بللی شي. په ادب کې د راپورتاژ د ليکلو او د سفرنامو د ليکلو روايت ډېر زوړ دی، خو په دې لنډه موده کې چې پښتو ادب کې څومره سفرنامې او راپورتاژونه ليکلی شوي دي ټولو په ادب کې خپل يو اهميت او مقام ترلاسه کړی دی، نه يوازې دا بلکې په مکمل ډول يې په ادب کې د يو صنف حيثيت موندلی دی، دغه وجه ده؛ چې په دې موده کې دې صنف ته پوره پوره پاملرنه شوی ده، که په سفرنامو او راپورتاژونو خبره کوو، نو خبره به ډېره اوږده شي، خو په لنډو لنډو به راوګرځو. ښاغلی فيروز خان صادق د پښتو ادب او صحافت په حواله يو پېژندلې شوې نوم دی، چې د پښتو صحافت او ادب په ميدان کې خپله يوه پيژندګلو لري، د هغه دا راپورتاژ هم د هغه دصحافتي ژوند فکر او نظر يو نچوړ دې، چونکه راپورتاژ هم د صحافت يو مد دې، يوه څانګه ده، نو ځکه د نوموړي دا هڅه د هغه د صحافتی تجزيي او مشاهدې

ketabton.com - The Digital Library

یوه ښکاره نمونه ده، دا راپورتاژ د پښتنو د لوی افغانستان سفري روداد دی، نو ځکه د دې سفر خپله یو رومان هم د دې سفر سره تړلې وو، یو روحاني او مسلکي تړون هم د دې سفر د مسافرو لاس کلک نیولې وو، چونکه زه هم د دې سفر یو برخه وم، نو چې کوم احساس په دې سفر کې ما احساسولې دې، ښاغلی فیروزخان صادق د هغې انځورګري هم کړې ده، په ټول سفر کې به د ټولو غړیدونکو ملګرو په شتون کې په هم دا ښاغلې داسې غلې وو، چې د هغه ژورې چپتیا به په نورو ملګرو ساه ډوبې راوسته، خو هغه د دې سفر نه چې څه ترلاسه کول، نو د پاره یې د خپلې ژورې مشاهدې سترګې پرانستې وې، د هغه ټول قوتونه هم د دې مقصد د پاره ویښ او بیدار وو، خو دا پته هله ماته ولګیده چې راته ښاغلي اعجاز ختک د هغه دغه مسوده د لیک د پاره په بریښنا لیک راولیږله او ما چې کتاب څنګه څنګه لوستو او پکې غرقیدم نو دا احساس راته وشو، چې د دې سفر په ټوله لار او هلته په هر ځای کې دا ښاغلی دومره غلی ولې وو؟ بهر حال دا راپورتاژ ډېر خوندور دی، دغه سفر چې د کومو کومو پړاوونو نه تیر شوې وو، د مینې او جذبې د کومو ګوټ پیرونو نه تیر شوی دی، نو د هغې ټول ټکي په ټکي په راپورتاژ کې په ژوندۍ بڼه لیکلی پروت دی، زه د دې کتاب د لوستونکو ذوق او مینه نشم خرابولی، چې د خپل مضمون د طوالت او ضخامت د پاره ترینه څه ټکي او کربښې را

ketabton.com - The Digital Library

واخلم، بلکې دا په لوستونکو ته پرېږدم، چې په خپله دا کتاب ولولي، د دې نه خوند واخلي، خدای دې وکړي، چې پښتانه د ښاغلي فیروزخان صادق دا د قدر وړ هڅه په درنو ټکو اوستایي او دوعا به کوو چې دا راپورتاژ دې د پښتنو د یووالی او تړون یو ګام ثابت شي، چې د پښتنو د یو موټي کېدو لاره هواره کړي او دې سره سره دې د استاد اسماعیل یون صیب او د هغه د ملګرو کورونه هم ودان وي، چې د دې مقصد د پاره کار کوي، هیله ده؛ چې پښتنو ادیبانو شاعرانو داسې د پولې یو خوا بلخوا تګ راتګ به هم داسې دوام لري ځکه جه دا پولې او دا کرښې د پښتنو دغسې یووالی او تړون به نور له مینځه وړي او هاغه ورځ لرې نه ده، چې ټولې کرښې او پولې به ونړېږي او پښتانه به یو شي.

په درنښت

**سیده حسینه ګل**

مردان

جون **۲۲** مه **۲۰۱۵** م کال

ketabton.com - The Digital Library

# له کوتله تر کابله

افغانستان زمونږ لوی کور دی، په زرهاو کلونو لرغونی تاریخ لري، اسلام دلته د شروع نه د دین د دعوت په برکت خپور شوی دی او بیا په ۲۳ هجري کې د حضرت عمرفاروق (رض) په دور خلافت کې دلته اسلام نور هم پیاوړی شو ، هرات، بامیان، فاریاب، بلخ، جوزجان، تالقان او قندهار هم په اسلامی سلطنت کې داخل شو او بیا د حضرت عثمان غني په زمانه کې کابل غزني او یو شمیر نورې سیمې هم د فتحې نه پس په اسلامي سلطنت کې شاملې شوې او یو مضبوط او مستحکم اسلامي افغانستان جوړ شو.

هم په دغه اساس ورسره زمونږ د مسلمانانو عقیدت هم دی او محبت هم او بیا د پاکستان سره خو یې د دین جغرافیې، کلتور، تجارت، ادب، ځکه نو د دواړو هېوادونو ولس د یو بل لپاره د اخوت، مینې او احترام په جذبو سرشار دي او د یو بل هېواد ته د تګ په وخت ځان مسافر نه احساسوي خصوصا کله

ketabton.com - The Digital Library

چې په ۱۹۷۹ کې روسي عسکرو په افغانستان یرغل وکړو، نو د افغانستان مسلمان غیرتي او پتمن ولس د خپل دین او ناموس د حفاظت په خاطر ګاونډي اسلامي هېوادونو پاکستان او ایران ته هجرت وکړو، چې زیات شمیر وګړي یې په پاکستان کښې مېشته شو، په دې دوران کې د لرې پښتونخوا ولس د خپلو افغانانو وروڼو خويندو سره لکه د مدینې د انصارو سلوک وکړو او تر خپله وسه یې د دوی میلمستیا وکړه، بلخوا افغانان هم ډېر محنت کش او خواریکښ وو، چې هغوی هم لکه د ګیدړ تیارې ته نه کیناستل بلکې لکه د زمري یې محنت ته ترجیح ورکړه او کار روزګار یې شروع کړو په ځای د دې چې په نور چا بار جوړ شي، د خپل کور او بال بچ د نفقې ګټلو د پاره یې د محنت او مشقت لاره غوره کړه هم دا وه، چې د خپلو انصارو وروڼو خويندو سره یې ډېر ښه وخت تیر شو.

په دی دوران کې د دواړو هېوادونو د وګړو ترمنځ د دوستۍ او خپلولۍ رشتې سره جوړې شوې، چې ورسره د دواړو هېوادونو د استوګنو د تګ راتګ سلسله نوره هم پراخه شوه او د ډېرو خلکو دا خواهش و، چې مونږ دې د خپل لوی کور سیل وکړو، چې د زمرې ځخه یې زه هم وم، ځکه چې ما به د خپلو سپین ږیرو او مشرانو ځخه د افغانستان خبرې اوریدې

ketabton.com - The Digital Library

خصوصا زما د ترور خاوند فتح محمد بابا چې اوس وفات شوی دی، هغه به د کار روزګار په سلسله کې ډیر افغانستان ته تللو او بیا به یې مونږ ته د هغه ځای حال بیانولو چې د وړوکوالي نه زما خواهش وو.

زه چې د ژورنالیزم څانګې ته راغلم او د ورځپاڼه وحدت پېښور سره مې عملي کار پیل کړ ما ویل اوس خو به افغانستان په دورو ستړی شم، ځکه چې افغان مهاجرینو چې کوم اوه تنظیمونه جوړ کړي وو وحدت یې اتم تنظیم ګڼلو وحدت د افغانانو په شا کلک ولاړ وو او تر جنګ بندۍ او بیرته تګ او بیا ودانۍ کار په خلوص سره کړی دی. بیا په وحدت کی د افغانستان په موضوع یو شمیر لیکونه او خبرونه هم زما چاپیدل خو د ورتګ نصیب مې نه و شوی او بیا چې په لوی افغانستان کښې حالات زیات کړکیچن شو، نو بیا خو د تګ نه په نه تګ خوشحاله ووم، خو چې د ملګرو د دورو او هلته د ادبي صحافتي او کلتوري فعالیتونو څخه به خبریدم نو بیا به مې دغه خواهش په زړه کې په غورځنګونو شو.

د کال ۲۰۱۳ د اګست د میاشتې اته ویشتمه نیټه او د چهارشنبې ورځ وه، چې د کال ۱۳۹۲ هجری شمسی د وږی شپږمی نیټې سره سمون خوری سهار د لمانځه نه پس د خپل

ketabton.com - The Digital Library

کلي نه کوهاټ ښار ته روان شوم، چې په هغه قافله کې شامل شم کومه چې د افغانستان د ملي تحریک او د ژوندون تلویزیون د مشر استاد محمد اسماعیل یون په بلنه کابل ته تلونکې وه او په کوهاټ کې د غه زمه واري او مشري زلمي شاعر او انقلابي زلمي عبدالرحمان افغانیار ته سپارل شوې وه چې د یوې اونۍ راهیسې به یې شیبه په شیبه ما ته یادونه کوله چې ځان تیار ساته کابل ته به ځو او چې ما به خپلوانو او دوستانو ته د کابل د سفر خبره کوله، نو هر یو به زه منع کولم او ویل به یې چې جنګ او بد امني ده او بیا د پاکستانیانو د پاره خو افغانستان قتل ګاه ده او زما ذهن یې داسې کړی و، چې ما ویل بس د تلو سره زما مرګ دی ځکه چې زمونږ په وړاندې رسنیو د افغانستان تصویر هم داسې وړاندې کړی و او زما خپلوانو دوستانو که ما ته دا نصحیت کولو نو هغوی ګرم نه وو.

خو زما یقین و چې افغانستان زما دویم بلکې لوی کور دی او پخپل کور کې مرګ هم د شهادت مرتبه ده او بل زما لکه د نورو مسلمانانو دا عقیده وه، چې د مرګ نه خلاصې نیشته او کومه ورځ او ځای چې د انسان د مرګ د پاره ټاکلی شوی دی هم هلته به دی رسیږي او هلته به مړ کیږي او هم په دې نیت سهار وختی بازار ته راغلم چرته چې ملګري جان محمد زرګر چې د

ketabton.com - The Digital Library

پښتو زلمی شاعر او انتهايي خاکسار مخلص ملګری دی زما په انتظار و بیا یو بل زلمي لیکوال او مینه وال شیر الرحمان بیتاب او انتهايي مخلص ملګري ډاکټر صابر شینواری، او په دوبۍ کی د پښتو ادبي ټولنې باني او( د شور شور خاموشی ) شعري ټولګې خالق محترم اعجاز خټک او زمونږ د قافلې مشر او مهتمم ښاغلي عبد الرحمان افغانیار ټول راغونډ شو او د کوتل د تاریخي غرونو څخه مو د طورخم په طرف سفر پیل کړو.

په لاره مې ملګرو ته وویل چې سید صابر شاه صابر ته به هم ورځو، ځکه چې هغه سره زما رابطه شوې وه او چې زما د کابل د تګ نه خبر شو نو قسم یې راکړو، چې سهار چای به مو زما سره وي او که تاسو دلته نه راغلۍ نو بخښنم به مو نه ملګرو زما سره دا خبره و منله، خو په دې شرط چې هلته به ډیر نه ایسارېږو ځکه چې مزل زیات دی او وخت کم او زمونږ موټروان هم دا خبره نه منله ما ورته خپله مجبوري او د صابر شاه پیري او زورګیري بیان کړه او بیا په ډیر مات زړه یې غاړه کیښوده او د سهار اته بجې مونږ د سید صابر شاه صابر حجرې ته ورسیدو هغه زمونږ په راتګ ډیر خوشحاله شو او د هر یو ملګری یې تود هرکلی وکړو د چایو څښلو په دوران کې مو ورسره خبرې اترې هم وکړې یو شمیر عکسونه یې هم راسره وویستل او

ketabton.com - The Digital Library

څه کتابونه او معمار مجله يې ملګرو ته ډالۍ کړل او د کابل د ليکوالو د پاره يې هم مجله او کتابونه راکړل او چې د صابر شاه صابر نه رخصت شوو. نو د طورخم په طرف روان شو ، چې د خيبر درې ته ورسيدو نو ماته دا شعر رایاد شو چې :

د خيبر دره خو لار د تلو راتلو ده

په کابل او پېښور کې افغان يو دی

ما چې د خيبر ځړو غرونو ته نظر وکړو نو د تاريخ يو لوی باب مې مخې ته راغلو دا هغه تاريخي سيمه او سړک دی چې د افغانستان د ننګرهار ولايت سره د پېښور پيوستون کوي په زرهاو کالونو تاريخ لري دا هغه لاره ده چې د وسطي ايشيا فاتحينو د هندوستان د حملو د پاره کارولې ده هم دغسې مورخين او سليګري هم پرې تلي راغلي دي او د پاکستان د جوړيدو نه پس د دواړو ملکونو تر منيځه مهمه تجارتی لاره ده ، خو د دومره تاريخي اهميت لرلو باوجود دا لاره د کنډراتو نمونه وړاندې کوی. هر ځای کې لاره خرابه ده دومره د شوارګزار سفر دی، چې بنده په تګ پښمانه کړی تقريبا ۴۸ کلوميټر

ketabton.com - The Digital Library

اوږده دا لاره د افغانستان په تنګ کې تر ټولو مشکله ده. سره د دی چې په دې لاره هره ورځ زرګونه قبایلي پاکستان او افغان وګړي سفر کوي د ټرکونو بسونو او نوروګاډو شمیر هم زرګونو ته رسي د ناټو د پاره د رسد لاره هم دا ده ولی بیا هم د دومره اهمیت باوجود د تنګ قابل نه دی. بلخوا په کابل ۲۰۱۲ کې پخوانی صدر آصف علی زرداري د دې سړک د جوړولو د کار پرانسته هم کړی ده او د یو اپس ایډ له اړخه ورته تقریبا ۲۷ ملین ډالر پانګه هم ورکړی شوې ده، خو په سړک کار دومره په سستۍ او لا پرواهۍ سره روان دی چې په راتلونکو لسو کالونو کې یې هم جوړیدل مشکل دي.

په دغه ازیت ناک سفر کې ما ته د خاطر افریدي مرحوم دا شعر رایاد شو چې:

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم

په دی خړ خیبر کې څه دي بې له خاورو

خو زمونږ دا خوش قسمتی وه چې ټول ملګري ښه خوش طبعیت او خوش مزاج وو او د یو بل سره په ګپ بوخت وو ګنې یو طرف ته د ګرمۍ سخت موسم او بل طرف ته خراب کچه سړک او ځای سره په ځای کار کولو په وجه بیا بیا اودریدل چې زیات

ketabton.com - The Digital Library

وخت مو پکې ضایع شو، خو د ډېرو مشکلاتو باوجود ملګري ښه خوښ وو او په څېرو یې د خوشحالۍ او تازګۍ نخښې ښکارېدې وې. داسې معلومېده لکه چې د مودو مودو مسافر خپل وطن ته واپس روان وي په لاره کې هغه تاریخي جماعت هم مخې ته راغلو چې څو کاله وړاندې پکې د جمعې د لمونځ په وخت ځانمرګی برید شوی وو او یو شمیر بې ګناه وګړي پکې په شهادت رسیدلي وو او جماعت هم شهید شوی وو. دغه منظر ټول ملګري غمګین کړل او شهیدانو ته یې دعا وکړه په سیمه کې یې د امن لپاره هم لاسونه پورته کړل نور هم د سیمې مختلف مقامات زمونږ د نظره تیر شو او بیا کله چې مونږ د طورخم تاریخي درې ته ورسیدو چرته د ډیورنډ کرښه مې ولیده، چې د دواړو خواو پښتانه د یو بل څخه بیلوي لکه چې په یو کور کې چې څوک دیوال جوړوی او د کور وګړي د یو بل نه جدا کوی دا تریخ تاریخ می هم د ذهن په پردو راخور شو چې د ډیورنډ د لاسه دا کرښه ولې راکښلې شوې ده او د لوی پښتون یو وجود یې ولې دوه ځایه کړی دی او بیا چې د دغه تړون معیاد پوره شوی دی، نو ولې په زوره حال د دواړو هېوادونو دولتونه او اولسونه ژوند نه تیروي او د دښمن د تړون پریکړه تر اوسه مني او عملي کوي.

ketabton.com - The Digital Library

دا وخت زمونږ په ساعتونو کې د غرمې يوولس بجې وې د طورخم په دروازه د وړو ګلاليو کوچنيو په لاسونو کې ګاډۍ وې او ويل به يې څوک مريضان ضعيفان يا سامان وړي، نو ګاډۍ حاضره ده، ځکه چې د طورخم په هډه کې چې مسافر کوز شي، نو بيا ډير مزل پياده کوي او پورې غاړه هډې ته ځي نو په دی دوران کښې مريضانو ضعيفانو ته تنګ ګران وي او سامان هم نه شي وړلی. ما يوه شيبه دا منظر وليدو او دغو ګلاليو ماشومانو ته ډير خفه شوم ما ويل دا وخت خو د دوی د لوبو او زده کړو دی د خوشحالۍ او ازادۍ دی دوی ولې دغو مزدوريو ته مجبور کړی شوي دي او پخپلو تنکيو لاسونو درانه پيټي وړي، ما ته خپل ضمير جواب راکړو دا هر څه د دې سيمې د دښمنانو د سازش نيتجه ده که دوی دلته د جنګ اورونه نه وي بل کړي او پردی جنګ يې نه وی راوړی، نو دا خلک به دا سی پسمانده او نا خوانده ولې وای؟ دوی به هم لکه د نورو ماشومانو سبقونه او مکتبونه ويل د خپل هېواد په ودانۍ او سوکالۍ کې به يې ونډه اخستله او د خپل سباوون لپاره به يې هڅې کولې.

ما په دغه موقع څلور طرفه نظر واچولو ځکه چې زه په اول ځل دلته راغلی وم او په دغه لږ وخت کې مسافرو د تنګ په نيت

ketabton.com - The Digital Library

په وړاندې روان کړو او څو ملګري مو رانه مخکې وروستو شو ځکه چې هغوی هلته بلد وو او دوستان یې لرل چې د هغوی سره وویني او بیا یې زمونږ د تګ نه خبر کړي عین په دغه وخت کښې د پورې طرف نه یو نوی موټر راغلو او زمونږ سره اودرېدو چې د شا طرف نه یې ټوپک په لاس دوه کسان راښکته شو او مونږ ته یې هر کلی وویلو او په موټر کې یې راته د ناستې بلنه راکړه.

زه حیران شوم خو ملګرو تسلي راکړه، چې دا موټر د یون صاحب په وینا د ګمرک ریس محترم زړه ورخان شینواري رالیږلی دی ښه زړه ور کینه او بیا د سترګو په رپ کې مونږ د ګمرک ودانۍ ته ورسیدو، چې بیخي کمه فاصله کې و او د ګاډي ضرورت نه و. پیاده هم تللی شوو خو د ګمرک د مشرانو مینه او پیرزوینه وه چې په دغه لږ مزل کې یې هم موټر راکړو.

کله چې مونږ د موټر نه کوز شوو نو د ګمرک ریس محترم زړه ورخان شینواري مدیر ښاغلی قاسم خان ستانکزی او نورو کارمندانو زمونږ تود هرکلی وکړو او یوه شیبه یې راسره په خبرو اترو کې واړوله چې ډیرې ګټورې او معلوماتي خبری مو واوریدې د افغانستان د حالاتو په اړه مو ترې ډیر معلومات ته لاسه کړل په دې دوران کې د پښتو یو زلمی شاعر ښاغلی

جاوید شینا هم راغلو ورسره ( ستا د سیمې کلیوال یم ) کتاب خالق نصیب جان نصیب شینواری هم راغلو د دوی کلام زه په وحدت کې وینم او لولم یې ځکه ورسره غایبانه پیژندګلو وه دوی سره مو هم ښې ګټورې خبرې وکړې یو بل ملګری عالمزیب شیرزاد هم راغلو داسې یوه لویه جمع جوړه شوه او یو بل سره مو د زړه حالونه شریک کړل په دې دوران کې د پېښور نه هم درې



ملګري هر یو میا لطیف شاه شاهد وارث نایاب او د ده میرمنه او نوموتې لیکواله محترمه سید حسینه ګل هم راورسیدل، دوی هم زمونږ په قافله کې شامل وو، ځکه نو مونږ ورته انتظار کولو خو کله چې دوی راورسیدل د ګمرک په ودانۍ کې مونږ ته ډېره ښه او خوندوره ډوډۍ راکړی شوه، چې د دنیا هر نعمت

ketabton.com - The Digital Library

پکې موجود و په دې موقع هم د ګپ شپ سلسله روانه وه د ګمرک رئیس محترم زړه ورخان شینواري. مدیر قاسم خان ستانکزي او د دوی نور کارمندان ډیر خوش اخلاقه او میلمه دوست مینه ناک او قدرمن چاروا کي وو چې شیبه په شیبه یې زمونږ خیال ساتلو او خدمت ته موچمتو ولاړ وو په خبرو خبرو کې مو ورسره مرکه هم وکړه چې بیا په وحدت کې چاپ شوه.

د ډوډۍ خوړلو نه پس مو اودسونه وکړل چې د ماسپښین لمونځ وکړو، خود موټروان خواهش و چې لمونځ به په لاره کې وکړو، ځکه چې وخت د لمونځ ته ډیر دی او سفر هم زیات دی چې په وخت ورسیږو ملګرو ومنله او د ګمرک د مشرانو څخه مو رخصت واخستو او د جلال آباد په لاره کابل ته روان شوو سفر اوږد و او زمونږ زیات ملګري سنجیده وو بیا د حسینه ګل خور موجودګي هم داسې وه، چې د بعضې بیباک ملګرو د لارې خندا و خو افرین شه په ډاکټر صابرخان شنواري چې د طورخم نه تر کابله پورې په سفر کې مسلسل لګیا و د افغانستان پوره تاریخ یې په حافظه کې پروت و، د هرې سیمې په تاریخي او تهذیبي صورت حال به یې ډیرې تفصیلي او تاریخي علمي او د دلچسپۍ باعث خبرې کولې، ډاکټرصاحب پخپله هم د شینوارو قوم سره تعلق لري ځکه نو په دغو سیمو ډیرخبر دی او

ketabton.com - The Digital Library

زیاتـه پوهـه لـري، چـې یـوه وجـه یـې دا هـم کیـدی شـي چـې ډاکټرصاحب څه موده وړاندې د شینوارو قـوم د تـاریخ لیکلو تابیـا هـم کـړې وه، نـو پـه دې لـړ کـې ترلـرې لـرې ګرځیـدلی و او معلومـات یـې راغونـډ کـړي وو، د ډاکټرصـاحب سـره مـونږ ډیـر ازاد ګپ لګولـو کلـه کلـه بـه پـرې یـو نـیم ملګری د طنز ګذار هـم وکړو، خو افرین شـه د ده پـه حوصلې چې پـه تنـدي یـې ګـونجې قـدري هـم نـه دی راغلـې او پـه هـره موقـع یـې د خنـدا پیشـانۍ څرګندونه کړې ده.

د افغانستان آب هوا بیخي بدله او معتدله وه د ګرمـۍ احسـاس مـو بالکـل نـه دی کـړی. پـه لاره کـې د سـړک پـه دواړو غـاړو شـنه باغونـه فصـلونه غرونـه او سیندونه وو، چـې زمـونږ نظرونـه یـې خپل ځان طرف تـه راجلب کـول او مـونږ د دغـو قـدرتي نظـارونـه محظوظ کیدو. په اکثرو مقاماتو کې مو ولیدل چې زمیندارانو نوې میوې او سبزۍ د سړک په غاړه د خرڅ لپاره ایښي وې، چې ما ته یې د مردان ملاګنډ په سړک د جهنډو، جلاله، شیرګړ او تـر سوات پورې هغه منظر رایاد کړو چرتـه چې مقـامي باغوانـان او زمینـــداران خټکي، الـــوچې، اســـترابری، مالټې، املوک او د موسـم نـورې میـوې او سـبزۍ خرڅـوي هـم دغـه منظـر د طـورخم جلال آباد په سړک مونږ ولیدو.

ketabton.com - The Digital Library

د سفر په دوران کې مو د مومند دره په مقام د سړک په غاړه جوړ شوی مسجد عمرفاروق کې د ماسپښین لمونځ په جمعې سره ادا کړو او د تحدیث بالنعمت په توګه باید ووایم چې د امامتۍ ثواب یې زما په برخه شو مخکې چې تیر شو نو د لوی مفکر شاعر لیکوال او سیاستوال استاد ګل باچا الفت مزار ته




ورغلو او دعا مو ورته وکړه، چې په لغمان کې موقعیت لري د دې نه پس په لاره کې د مازدیګر لمونځ لپاره ودریدو دغه ځای کې ډاکټرصابرخان شنواري یو دوکاندار نه د شلو روپو چپس راواخستل او چې کله یې شل روپۍ ورکړې نو دوکاندار ورته

ketabton.com - The Digital Library

وویل شل نورې راکړه ځکه چې مونږ سودا په افغانیو پلورو. په دې خبره ډاکټرصاحب حیران شو او بعضې ملګرې په خندا شو. نورو ملګرو هم د دوکانونو څخه د خوراک څیزونه او مشروبات رااخستل او د یو بل اکرام یې وکړو.

د دمې نه پس مو بیا حرکت وکړو او چې ماښام لمر پرېوتو نو په دغه وخت کې مونږ د کابل یکه توت سیمې ته ورسیدو



چرته چې د ژوندون تلویزیون ودانۍ ده. کله چې دروازې ته ورسیدو نو په وظیفه تعنیات څوکیدار زمونږ په روڼ تندي هرکلی وکړو او چې زمونږ د سفر نه خبر شو، چې د استاد اسماعیل یون په بلنه د یو سمینار لپاره راغلي یو، نو لا مونږ په خبرو بوخت وو، چې استاد یون پخپله بهر راغلو او زمونږ یې

ketabton.com - The Digital Library

ډير تود هر کلی وکړو ، بيا ورسره د ننه د ژوندون تلويزيون دفتر ته لاړو ، چې لويه ودانې لري او د هرې خپرونې لپاره خپلې جدا ستوډيوګانې لري. ورسره لوی چمن ، کينټين، مسجد ، ميلمستون او نورې ټولې آسانی هم دلته موجودې وې. کله چې



مونږ د ننه لاړو ، نو په چمن کې دوه ميلمانه ناست وو. چې څنګه له مونږ سره مخامخ شول نو ډير په مينه يې راته هرکلی وويلو او خپله پيژندګلوي يې وکړه چې د هغې تر مخه په دوی کې يو استاد ثناء الله خان يوسفزی و چې د ال انډيا ريډيو د ډهلي پښتو خپرونې معروف نطاق و. او ما يې ډير په وړوکوالي اواز اوريدلی و. ځکه نو هرکله چې ده خبرې وکړې ، نو ما ترې تپوس وکړو ستاسو اواز مې چرته اوريدلی دی او بيا هغه د ال انډيا

ketabton.com - The Digital Library

ریډیو د ډهیلی خبره وکړه او چې کله ما ورته وویل ستا سو د اواز سره د وړوکوالي نه واقف یم، نو بیا یې راته ټوله کیسه وکړه چې په بنیادي توګه د صوابی ضلعې د زیدې کلي سره تعلق لري، بیا د دوی نیکونه تخت بابې مدې بابا ته راغلي وو او وروستو یې مشران بټګرام ته تللي وو. هم دغه ځای نه بیا دوی هند ته لاړل خو جایدادونه او خپلوان یې اوس هم په دغو ځایونو کې میشته دي. البته ثناء الله خان یوسفزی د خپل خاندان سره اوس مهال په هندي کشمیر کې ژوند کوي او دلته د پښتنو قومي مشر دی. چې په کشمیر کې د پښتنو روایاتو او ژبې د خوندي کولو او غني کولو لپاره په لویه پیمانه کار کوي. ډیر خوش اخلاقه سړی وو او لویه تاریخي پوهه او پانګه یې لرله.

دویم میلمه د هند څخه راغلی ډاکټرعبدالخالق رشید و چې په هند کې په افغان سفارتخانه کې د کلتوري چارو مسول دی. نوموړی ډیر شریف شخصیت دی. یو شمیر کتابونه مقالې او د پښتون قام تاریخ یې لیکلی دی او خصوصا په هند کې د پښتنو د تاریخ څخه ډیر خبر وو او اوس مهال چې کوم پښتانه په هند کې میشته دي د هغوی متعلق یې هم دقیق معلومات لرل. په دې دوران کې زمونږ ملګرو ته هم موقع ورکړی شوه چې

ketabton.com - The Digital Library

په وار وار سره خپله پيژند ګلوي وکړي. هر ملګری خپله لنډه پيژند ګلوي وکړه. البته ډاکټرصابرخان شنواري په ډیر تفیصل کې لاړو او پوره تاریخ یی بیان کړو، ځکه چې موصوف د تاریخ لیکوال دی ځکه نو په ماغزو یې تاریخ سپور و، خو ښه وه د ماښام بانګ شروع شو او مونږ د لمانځه لپاره پاڅېدو.

کله چې لمونځ څخه فارغ شو، نو د استاد یون صاحب په وینا مونږ ټول میلمانه په ګاډو کې روان شوو د شپې د کابل ښار بیخي د رڼاګانو نمونه وه. هرطرف ته لوړې دنګې ودانۍ ارت بیرت سړکونه د ټریفک بهترین نظام د ژوند ټول معمولات روان دوان بازارونه مارکیټونه آباد او د خلکو ګڼه ګونه بیخي یو داسی منظر و لکه چې مونږ د اروپا په کوم ښار کې روان یو. لږه شیبه پس مونږ یوې لوړې ودانۍ ته ورسیدو. هلته په پارک کې ټول ګاډي ودرول شو او بیا مونږ په پوړو پوړته وختو چیرته چې د حجرې په طرز یو لوی میلمستون و.

دلته درې څلور کسان زمونږ منتظر و. چې مشري یې د یو زلمي حاجی میرعالم ستانکزي په غاړه وه. دا ښاغلی ښه کاروباري او شتمن سړی و. په پښتون قوم او ژبې هم سخت مئین و او د نن ماښام ډوډۍ زمونږ لپاره هم ده کړې وه. چې پکې د دنیا هر یو نعمت موجود و د خوراک په دوران کې د پښتون

ketabton.com - The Digital Library

قام په تاریخ او او سني وضعیت هم خبرې وشوې ورپسې د ترخو چایو دود وشو او ماسخوتن بیرته مونږ د راتګ د پاره تیاري نیوله چې یو زلمي راباندې آواز وکړو. صادق صاحب څنګه ئی ؟ او ملګري اندېوالان دې څنګه دي. ما په اثبات کې ځواب ورکړو خو حیرانه هم شومو چې دا څوک دی چې ما پیژني. او زه یې نه پیژنم هغه زما په طبعیت پوهه شو او زر یې وویل محمد کبیر یم او بیا ما وپیژندو چې د حاجی یاقوت خان شینواري سره په کوهاټ کې ده کار کولو ورسره یو بل ملګری خان آغا هم و ما ترې د هغه پوښتنه وکړه ویل یې هغه هم دلته دی او زه هم په دې ودانۍ کې د حاجی میرعالم ستانکزي سره کار کوم. ښه ګذاره مو روانه ده حاجی یاقوت خان شینواری د پښتو لیکوال او ژورنالست دی چې ورځپاڼې وحدت پېښور سره یې د بیورو چیف او کالم نګار په حیث کار کولو اوس مهال په بیلجیم کې دی او خپله دنده تر سره کوي.

د ملګري محمد کبیر نه رخصت شوو او بیا د ژوندون تلویزیون خپل میلمستون ته راغلو دا عجبه خبره وه، چې زمونږ په کمرو کې پکې نه وو او موسم معتدل و، ځکه نو د پکو ضرورت هم نه محسوسیدو او دا حال په ټول کابل کې و. مونږ لویو لویو دفترونو او هوټلونو ته لاړو، خو د کابل موسم داسې

ketabton.com - The Digital Library

و ، چې د غلته پکي نه وو. ورسره عامې او به هم د ځبنلو لپاره نه پیدا کیدې هرځای کې فلتړ شوې او به په بوتلونو کې لاس ته راتلې او خاص وعام به هم دغه او به کارولې.

سهار چې مونږ پاڅیدو نو د لمونځ او ناشتې نه پس بیا د ژوندون تلویزیون په چمن کې راغونډ شوو او په هغه سمینار کې د ګډون لپاره مونږ روان شوو چې سر خط یې و( پښتون په تراژیدی کې او د ژغورنې لار ) او د نومورې سمینار لپاره زمونږ په شمول د هېواد د ننه و دباندې څخه پوهان لیکوالان او د قلم قبیلې څښتنان بللی شوي وو او بېلا بېلو مقاله لیکونکو ته په لاندنیو موضوعاتو د مقالو لیکلو بلنه ورکړل شوې وه:

(۱ ) د سیمې استخبارات او پښتانه

(۲ ) تیره یوه لسیزه او وژل شوي پښتانه مشران

(۳ ) د مدرسې او ښوونځی واټن او د پښتون ماشوم برخلیک

(۴ ) شمالي ټلواله او پښتانه

(۵ ) مذهبي افراط او پښتانه

(۲ ) پښتانه او نړیواله ټولنه

ketabton.com - The Digital Library

(۷) پښتانه او د مفاهیمې هنر

(۸) د پښتنو ځان ساتي مشران

(۹) ښوونځي سوځونه او د پښتنو راتلونکی

(۱۰) د پښتون مشرتابه خلا

(۱۱) پښتانه او اوسنی سیاست

(۱۲) پښتانه او افراطیت

(۱۳) پراخ کیمیت او موثر کیفیت

(۱۴) پښتانه او رسنۍ

(۱۵) اقتصادي فقر او د پښتنو راتلونکی

(۱۶) پښتو او سیالې ژبې

(۱۷) جګړه او د پښتنو کلتوري ارزښتونه

(۱۸) د لرو برو د پیوستون لارې چارې

(۱۹) پښتانه روښنفکران او مضر احتیاط

(۲۰) پښتانه او نړیوالتوب

(۲۱) پښتانه او هنري نړۍ

(۲۲) د پښتو لیکنې سمون لارې چارې

ketabton.com - The Digital Library

( ۲۳ ) پښتو او پښتانه چارواکي

( ۲۴ ) پښتانه او غربي نړۍ

( ۲۵ ) پښتانه او ګاونډیان

( ۲٦ ) پښتانه او انتخابات

( ۲۷ ) پښتانه او د نړۍ زبرځواکونه

د دې سربیره لیکوالو ته دا هم ویلی شوي وو، چې که چیرې په اړوندو موضوعاتو او په ورسره سمون خوړونکې موضوع څوک مقاله ولیکي نو هغه به هم په سمینارکې شاملولی شي او یا که څوک وینا کول غواړي نو هغه ته به هم موقع ورکولی شي چې په دغو موضوعاتو وینا وکړي کله چې مونږ د سمینار ځای کابل ستهار هوټل ته روان شو، نو په لومړي ځل مو د کابل ښار هم په رڼا ورځ ولیدو او کوم تصویر چې مونږ ته د رسنیو د کابل ښودلی و هغه بیخي دروغ ثابت شو. ځکه چې رسنۍ وایي هره ورځ په کابل کې بریدونه او بمونه دي وژنې او جنګونه دي ځانمرګي حملې او د انسان د وژنې پلانونه دي، خو د چا خبره چې لیدلی او اوریدلی ډیر فرق لري. مونږ دغه یو منظر په کابل کې ونه لیدو هر طرف ته د بیا ودانۍ کار روان و د کابل ښار ټول

ketabton.com - The Digital Library

لرغوني اثار او ودانۍ خوندي وي. بازارونه مارکیټونه یې اباد و د خلکو ګڼه ګونه بیخي عادي ژوند و بلکې ماډرن ژوند و او د کابل ښار د پیرس نقشه وړاندې کوله او داسې هوار سړکونه وو ، چې د سترګو په رپ کې یې مونږ د کابل سټار هوټل میلمنو لپاره ورکړلی شوو مخصوصو ګاډو په زریعه رسولي وو.

کله چې مونږ د کابل سټار هوټل ته ورسیدو نو ما ته د پېښور



انټرکانټینینټل هوټل رایاد شو ، هو بهو هم داسې نظام یې و د استقبالیې نه واخله تر تالار ټوله نقشه یې یو شان وه او ما ته داسې محسوسه شوه لکه چې مونږ پېښور کې یو.

هرکله چې تالار ته ورسیدو نو یو شمیر ادب پوهان سیاستمداران، وزیران خارجي میلمانه او د رسنیو استازي او

ketabton.com - The Digital Library

نور اړوند شخصیتونه مو له ډیر نزدې څخه ولیدل چې له جملې څخه یې پوهاند حبیب الله رفیع، عصمت قانع، حبیب نثار، محمد اکرم خپلواک د سرحدی چارو وزیر، ډاکټر ځلاند، قاضی حسن حقیار، طایر ځلاند، ډاکټر خوشحال روهي، مجیب الرحمان لحاظ، جنرال طاقت، فرید احمد تسکین، سراج الدین پټهان، ډاکټر ابراهیم شینواری، ډاکټر کمال سادات، استاد روستار تره کی، محمد حلیم فدايي او یو شمیر نور نوموړي شامل وو.

سمینار پیل شو او هر یو وینا کوونکي ته په وار سره بلنه ورکړی کیده. چې ډیری علمي او د موضوع سره برابرې مقالې پکې په بشپړ ډول واورول شوې، خو د مقاله نګارانو تعداد زیات موضوع فراخه او وخت کم و ځکه نو منتظمینو اعلان وکړو چې د مقالې پڅای خلاصه وړاندې کوئ ځکه چې وخت نیشته او میلمانه زیات دي. که څه هم په دغه وینا چا عمل ونکړو او هر چا د خپل زړه براس وویستو خو آفرین شه د اوریدونکیو په حوصلو چې په ډیر صبر او غور سره یې مقالې واوریدې او په ډیره منظمه توګه سمینار پای ته ورسیدو. چې په اخرکې یې ګډه اعلامیه هم جاری کړی شوه او دا هم وویل شو چې په سمینار کې اورول شوې ټولې مقالې به په کتابي بڼه چاپ

ketabton.com - The Digital Library

شی. ما چې د سمینار په اړوند پورته موضوعي فهرست کې لسم نمبر موضوع خوښه کړې وه، نو دلته که یې راوړم او تاسو درنو لوستونکیو سره یې هم شریکه کړم. کوم عیب را ته نه ښکاري دا هم همغه مقاله چې ( د پښتون مشرتابه ) ترسرلیک لاندې لیکل شوې او اورول شوې ده.

دا حقیقت لکه د لمر روښانه دی چې پښتانه زرګونه کاله لرغونی تاریخ لري. دغسې دوی خپل ځانګړي روایات، اقدار، تهذیب، تمدن، دود، دستور او عنعنات هم لري او دا هغه بهادر، جرات مند، میړنی او تاریخي قام دی، چې تل یې پخپل ناموس، وطن غیرت کړی دی او په نړۍ کې یې د خپل ځانګړي فطرت او طبیعت یو جدا روایت قایم کړی دی.

د پښتون قام وګړي انتهایي زړه سواندي، خیرخوا، همدرد او د نورو سره د ښیګړې په صفاتو سینګار او سمبال دي. د لوظ پاښه او د روغې جوړې منونکي دي. په ټولنیزه توګه دوی داسې کارنامې ترسره کړي دي چې نور قومونه او ولسونه ورته حیران دي او په ځانګړې توګه یې هم کړي، داسې د جرات او ځانګړي شجاعت څرګندونه کړېده، چې یوه نړۍ یې متعرفه ده. زه سره ددې چې د دې قوم په اړه په عامه توګه دا ویل کیږي، چې تعلیم نه لري، بلکې د تعلیم مخالفت کوي خصوصا په

ketabton.com - The Digital Library

نجونو خو بيخي د زده کړې دروازې بندې ساتي بيا ځينې روايتونه او قدغنونه هم داسې دي، چې زده کړو په لاره کې خنډ ان ګڼل کيږي. خو ولې بيا هم پښتانه وګړي په مختلفو ځانګو کې داسې کارنامې ترسره کوي هم په تيرې زمانې کې او هم اوس مهال يې ټوله نړۍ په حيرت کې اچولې ده.

د فکرځای دی چې هرکله د يو قوم بچيانو او ځوانانو ته خصوصا نجونو ته د تعليم لارې هم ترل شوې وي. بندېزونو او قدغنونو سره هم مخ وي ولې بيا هم دومره پرمختګ وکړي. نو يقينا چې دا ددې خبرې غمازي کوي چې پښتانه ډير باصلاحيته قوم دی. خو که چيرې دوی د روزنې، پالنې، زده کړې او ښوونې بندوبست په سمه توګه وکړای شي او په صحيح اسلامي او افغاني طريقې سره ورته تعليم ورکړی شي نو د نړۍ د هر قوم نه زيات پرمختګ کولی شي او ډير ناممکن کارونه ممکن کولی شي. ځکه چې دا قوم ډېر زړه ور او جرات مند قوم دی. چې په هرحال کې دوی د خپل محنت او صلاحيت په برکت لارې وباسي لنډه دا چې پښتون ډېر لرغونی د کمال او هنر نه ډک قوم دی. چې د نړۍ په مختلفو هيوادونو يې حاکميت هم کړی دی او بادشاهي هم.

ketabton.com - The Digital Library

خو له بده مرغه چې پښتون قوم د دومره لوی تاریخ درلودلو باوجود په بعضې اړخونو کې د نورو قومونو څخه ډېر وروسته پاتې شوی دی ، لکه د مثال په توګه پښتون قوم په هره زمانه کې د یو مخلص ، ذهین او ځیرک مشر د سیوري لاندي ندي جمعه شوي. چې دا خو اور تس نس قوم یې په یو تغر راغونډ کړی وي یا اوس یې راغونډ کړي. ځکه چې د پښتون دا لویه بدمرغي ده چې دوی د ځان نه بغیر بل څوک مشر نه مني هر یو ځان زمری بولي او نور ورته ګیدړان ښکاري. حال دا چې دا ممکنه نه ده چې هر څوک دې زمری شي او د دنیا تاریخ شاهد دی چې د ټول قوم مشري یو کس کوي. هر څوک د دې جوګه نه وي او هغه قوم پرمختګ کولی شي کوم چې د خپل مشر تابه په احکاماتو او پریکړو په خلوص او اتفاق سره عمل کوي. ولې د پښتون قوم بخت په دې لړ کې بیدار نه دی او د بې اتفاقۍ ښکار دی.

د دې سره یوه مهمه خبره هم کولی شي، چې د پښتون اتحاد د یوې توطیې له مخې تار تار کیږي ، خو دا لا تر اوسه پورې چا معلومه نه کړه چې د دې توطیې تر شا څوک دي او ولې د پښتون قوم وحدت ته زیان رسوي په دې لړ کې زمونږ پوهانو ته د خپلو صلاحیتونو ، تجربو او ادراک پر بنسټ کار کول پکار

ketabton.com - The Digital Library

دي چې د پښتون وحدت خلاف سازشي لاسونه راڅرګند کړي او د هغو مخونه بې نقابه کړي. کوم چې په دې سازش کې ککړ دي.

له بده مرغه دا حقیقت هر څوک مني چې پښتون قوم مشرتابه نه لري خو د دې د پاره لاره هواره کړي. ټول پښتون په یو مزي و پیري. ځکه چې نن پښتون قوم د کومو مشکلاتو او کشالو سره مخ دی ، کوم جنګونه چې په پښتنه سیمه کې شروع کړای شوي دي. د دې ټولو بنسټیز علت د پښتون رهبر نشتوالی دی. د پښتون راغونډ بدل ، یو کیدل د دوی د هر دښمن ماتې ده ، لکه خوشال بابا چې وایي.

اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شه

ګنې ما به د مغل ګریوان پاره کا

اسلام هم موږ ته د یوالي لارښوونه کوي او دا د خوښۍ ځای دی چې پښتانه د اسلام په سپیڅلي دین کلک مین دي او په اسلامي تعلیماتو باندې عمل کوي. هم د دې لارښوونو په نتیجه کې موږ ټول پښتون قوم ته پکار دي چې په یو مشرتابه راجمع شو او د یووالي څرګندونه وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

بله زمونږ د قوم دا هم بد مرغي ده چې اقتدار يې لاس ته راغلی دی، خو ولې بيا هم د خپلې ژبې، کلتور، فرهنګ او د خپل ملت لپاره يې کوم بنستيز ګامونه نه دي پورته کړي، خصوصا د ژبې په برخه کې خو تر يې تاريخ ډېر ګيله من دی او وايي چې دوی په خپلو بادشاهيو کې د دوی دولتي او درباري ژبه پردۍ وه د ليک لوست ژبه پردۍ وه ، ځکه خو پښتو ژبې هغومره پرمختګ ونه کړو څومره چې يې تاريخ اوږد دی او هميت يې معلوم دی. داسې نور هم ډېر عوامل او علتونه دي چې هغه د پښتون قوم د پرمختګ په لاره کې خنډان دي.

اوس موږ ته ضرورت د دې خبرې دی چې نور زمونږ د يوويشتمې پيړۍ پښتون ځان وپيژني او د پښتون مشرتابه دا خلا پخپل سوچه فکر، سپيڅلي سوچ او روښانه ذهن د يو داسې مشرتابه په صورت کې پوره کړي چې څلورو کروړو پښتنو د پاره د منلو وړ او د رهبرۍ جوګه وي او هم دا هغه فيصله او ذريعه ده چې پښتنه سيمه کې لګيدلی اور وژلی شي او پښتون قوم د موجوده او راتلونکی ستونزمن ژوند چې تيروي د هغه نه نجات موندلی شي او د يو امن خوښي، وطن پرست او د ملت خيرخوا په عصري علمو پوهه مهذب او مترقي

ketabton.com - The Digital Library

قوم ترې جوړېدی شي او د نړۍ په قومونو کې د سيال قوم په توګه خپله پيژندګلوي جوړولی او ساتلی شي.

په هر صورت د سمينار په نيمايي کې ټولو ميلمنو ته ډوډۍ ورکړی شوه او دا هغه شيبه وه، چې د يو شمير ناليدلو څهرو سره مو څو خبرې او ملاقات وشو ځکه چې د سمينار په دوران کې دا موقع ميسره نه وه، خو د وقفې نه په استفادې سره مو څو ملګرو سره خبرې اترې وشوې او په ملاقات يې خوښ شوم. کله چې د سمينار څخه فارغ شوو نو ملګري طاير ځلاند ويل چې اوس به زما سره ځې. اول به د باغ بالا او بيا به د کابل ښار سيل وکړو. او بيا به شپې ته زما سره ميلمانه ياست.

طاير ځلاند زلمی شاعر اديب او د تلويزيون او راډيو تکړه وياند دی د (خوشبو نه وينه د رنګونو څاڅي) او (لپه کې رڼا) يې شعري ټولګې چاپ دي او د (پښتو غزل تنقيدی جاج) يې نثري اثر دی د دې تر څنګ يې په مختلفو مطبوعاتو مجلو اخبارونو او انټرنيت له لارې علمي ادبي مقالې هم وخت په وخت خپريږي. ماشوم توب يې د مهاجرت په حالت کې زمونږ سره په کوهاټ کې تير کړی دی او هم دلته يې سبق ويلی او د دينی زده کړو نه يې د کوهاټ ملګرو سره د خپلی مينې رشته قايمه ساتلې ده هم دا علت و چې مونږ هم ورته ترې اجازه

ketabton.com - The Digital Library

ضروري ګڼله او طايرځلاند هم راسره ومنله او يون صاحب هم په رونړ تندي اجازه راکړه. خو يون صاحب پر طايرځلاند دا تاکيد هم وکړو، چې سهار يې بيرته وختي ما ته راورسوه.

وروستو مازديګر وخت مونږ باغ بالا ته لاړو. هلته مو د کويټې نه راغلي ميلمه شاعر فضل الهی پتمن، فريد احمد تسکين او صالح محمد سره هم ملاقات وشو. په دوی کې نمړی دواړه ښاغلي خو مونږ په اول ځل وليدل. البته صالح محمد مونږ سره په کوهاټ کې د غلام بانډې کيمپ کې اوسيدو. او مونږ سره به په ادبي بنډارونو او مشاعرو کې شريکيدو. نو زمونږ سره يې پيژندګلوي وه د هغه په ليدو مونږ او زمونږ په ليدو هغه ډير خوښ شو او د يو بل سره مو تيرې خاطرې رايادی کړې د ملګرو د حال احوال تپوس پوښتنه وشوه او ملګرو تصويرونه وويستل او بيا د لمر پرېوتو سره مونږ د کابل ښار سيل ته روان شوو او د کابل په مختلفو بازارونو سړکونو او مشهورو ځايونو ورغلو.

دلته پخوانۍ ودانۍ هم موجودې وې چې پيړۍ پيړۍ پخوا جوړې شوې وې او د مختلفو مذهبونو او تهذيبونو ترجماني يې کوله او اوسنۍ ودانۍ مو هم وليدې چې د نړيوال معيار مطابق جوړې شوې وې. د جنګونو په دوران کې په نخښه شوي

ketabton.com - The Digital Library

دیوالونه مو هم ولیدل چې د ګولیو او غوټو غارونه او سوري اوس هم پکې ثرګند وو لکه د دغو ودانیو لیدو سره راته ماته د افغانستان مړدکیو زره کلن تاریخ راوړاندې شو او د مختلفو قومونو او تهذیبونو تصویر یې د سترګو وړاندې ودریدو خصوصا د جنګونو او بریدونو یو طویل تاریخ راته رایاد شو کله د کوروش د سرو لښکرو یرغل او کله د سکندر یرغل، کله د ساسانیانو واک کله د پینوهونګانو واکمنې کله د غربي ځواکونو حملې او کله د نورو قومونو تیري کله صفویان او کله سامانیان، غزنویان او بیا چنګیرخان او ګوډ تیمور ظلمونه او حکومتونه چې د افغانستان په خاورو دغو ټولو قومونو د قبضې او واکمنۍ هڅې کړي دي، خو بریالی شوي نه دي چې ټول عمر یې حکومت پرې وکړي ځکه چې دا خاوره دا وطن او دا هېواد د افغانانو و او وي به او د ډیرو جنګونو او کوششونو ناکام کیدونه پس ټولې نړۍ د افغانستان ځخه لاس واخستو او په ۱۷۰۹ په لومړي ځل د میرویس نیکه د مشرۍ لاندې افغانانو خپل نظام جوړ کړو. او بیا په ۱۷۲۳ کې ابدالیان د دې هېواد واکمن شو او په ۱۷۷۲ ء کې یې د احمدشاه ابدالي دراني په مشرتابه یو مضبوط او مستحکم حکومت جوړ کړو. او د تاریخ په اوږدو کې په اول ځل د افغانستان په خاوره د افغانانو فراخ

ketabton.com - The Digital Library

بنسټ حکومت قایم شو چې تر او سه پورې د افغانانو حکومت قایم دی.

د تاریخ له مخې د افغانستان نومونه مختلف پاتې شوي دي چې د جملې څخه یې سجستان هم دی دا داسې هېواد دی چې تر ټولو زوړ تاریخ لري او افغان داسې مضبوط او توانا قوم دی چې تل د جنګ په حالت کې پاتې شوی دی. کله د خارجي یرغلګرو او تعرض کوونکیو خلاف مورچه زن دی او کله د خپل منځي قبیلوي جنګونو په ولقه کې دی. او د افغانستان په سمه او غر، ښاره دښته صحرا او بازارونو هر ځای کې دغه انځور موجود دی.

مونږ د کابل ښار په ننداره وو خو وخت ماښام شو او زیات دوکانونه تړلی شوي وو. خصوصا د کتابونو دوکانونه تړلي وو سره د دې چې په یو ځای کې د کتابونو لوی بازار و او په زمکه د کتابونو لوی تعداد موجود و خو دوکانداران د تګ په حال کې وو او کتابونه یې راغونډول ځکه مونږ تري کوم کتاب وانه خستی شو او بیا چې په وړاندې لاړو نو د کابل تاریخي جماعت پل خشتي ته لاړو او دلته مو د ماښام لمونځ ادا کړو. دا ډیر ارت بیرت او لوی مسجد دی چې په لیدو سره یې د پیښور مهابت خان جماعت یا لاهور بادشاهي مسجد مونږ ته رایاد شو. په

ketabton.com - The Digital Library

جماعت کې د لمونځ ګذارو زیات تعداد موجود و سره د دې چې د جمعې لمونځ شوی و خو بیا هم دومره خلک وو چې څو څو جمعې جوړېدی شوې. بعضې خلک پکې ناست وو او د جماعت د روحاني ماحول نه ئی خوند اخستو د لمونځ نه پس مو د دې تاریخي مسجد سیل وکړو او مختلفی برخې مو ولیدې او بیا د طایرځلاند د کور په طرف روان شوو چې د کابل په اطرافو کې موقعیت لري.

دغلته مونږ د شپې ناوخته ورسیدو چې زیات مزل مو پیاده وکړو د دې فایده دا وه چې سیل مو ښه وکړو په دې وخت کې زمونږ درې ملګري میالطیف شاه شاهد ، وارث نایاب او حسینه ګل زمونږه جدا شوي وو. نه ده معلومه چې هغوی کوم خوا ته تلي وو. خو شپې ته بیرته خپلو کمرو ته ژوندون تلویزیون ته تللي وو.

مونږ چې د طایرځلاند کور ته راورسیدو نو د هغه نورو ورونو واصف الله شمس، سایرځلاند او څو نورو ځلمیو زمونږ تود هرکلی وکړو. واصف الله شمس د پښتو شاعر دی او زمونږ سره په کوهاټ کې ډیر پاتې شوی دی. ټولې دیني او عصري زده کړې یې هم دلته کړي دي او لکه د طایرځلاند یې د فراغت دستار تړلی دی دی. په ننګرهار کې اوسیږي. خو د ورور کره په

ketabton.com - The Digital Library

میلمستیا راغلی و، خو ښه ده چې زمونږ سره یې هم لیده کاته وشو. د ماسخوتن ډوډۍ خوړلو نه پس ملګرو تر ناوخته خبرې اترې وکړې او د یو بل د حال څخه یې ځانونه خبر کړل.

سهار چې مونږ پاڅیدو نو د لمونځ لپاره زه او اعجاز خټک صاحب ووتلو او چې څه مزل مو وکړو، نو یو جمات په نظر راغلو خوله بده مرغه د اوبو کمبوت مسله پکې موجوده وه خو بیا هم اودسونه مو وکړل او لمونځ مو هم وکړو. کله چې واپس راغلو نو خبر شو چې زمونږ ملګري ډاکټر صابر خان شینواري واپس تلی دی او د ځان سره یې فضل الهی پتمن هم بوتلی دی که څه هم ډاکټر صاحب وړاندې ویل چې ټول سفر په دې رنګین و، خو سهار چې ټول ملګري اوده وو نو ډاکټر صاحب د موقعې نه فایده اخستې وه او پښې یې سپکې کړې وې.

مونږ چې د سهار چای وڅښلې نو بیا ژوندون تلویزیون ته راغلو دلته مو دمه وکړه او بیا د استاد اسماعیل یون صاحب سره د کابل بابا هوټل ته لاړو. هلته زمونږه ډیره ښه میلمستیا وکړی شوه. کله چې د ډوډۍ نه فارغ شوو او لاندې راکوز شوو نو حسینه ګل خور څو وارتپوس وکړو هغه نایاب څه شو؟ نو یو ملګري ځواب ورکړو چې نایاب دی نو بیا یې څه له تپوس کوې چې په دې ټول ملګري په خندا شو. او لږه شیبه پس نایاب هم

ketabton.com - The Digital Library

راغلو چې د لاس مینځلو د پاره غسلخانې ته ننوتی و د ډوډۍ نه چې اوزګار شوو نو د ژوندون په طرف روان شوو دا د جمعې مبارکه ورځ وه، ځکه ملګرو غوښتل چې د افغان ادبی بهیر په اوونیزه غونډه کې برخه واخلي کومه چې په هره جمعه دایریږي. دا خبره ټولو ملګرو په یو اتفاق سره خوښه کړه او بیا د یون صاحب په اجازه د جمعې د لمونځ وروستو مونږ ټول ملګري د افغان ادبی بهیرغونډې ته لاړو.

کله چې د غونډې ځای ته ورسیدو نو غونډه پیل شوې وه. ایجنډا هم ټاکل شوې وه. خو کله چې د غونډې ملګرو مونږ ولیدو نو د غونډې صدر اعلان وکړو، چې د میلمنو خبرې به واورو شعرونه به وواییي او ټاکلې ایجنډا به بلې غونډې ته پریږدو. په دی پریکړه ټول یوه خوله شوه او بیا د میلمنو سره اعجاز ختټک صاحب او میرمن حسینه ګل هم د میلمنو په څوکیو کیناستل دلته مو نجیب الله منلی، عبدالجبار څپاند ، نثار صاحب، رودوال صاحب، همایون هېواد ، الحاج ډاکټرنعمت ګل پرګنیز، افضل شیرزاد ، نورګل شفق، سید جیلانی جلان، ترابي منګل، جاوید اوربل، پښتونیار ، شمس الدین شمس، فضل الرحمن پاڅون، محمد عزیز تحریک. اسدالله غضنفر، اسلام زوی، علم ګل سحر، پیرمحمد

ketabton.com - The Digital Library

کاروان، زلمی هنرمند جاوید امرخېل او یو شمیر نور شاعران ادیبان او پوهان مو دلته ولیدل. مونږ ورسره خپل احساسات او خوښي شریکه کړه او دوی هم زمونږ په راتګ بیخي زیات خوښ وو.

کله چې د بهیر غونډه پای ته ورسیده، نو یو شمیر کتابونه ملګرو یو بل ته ډالۍ کړل او چې مونږ د بهیرد دفتر څخه لاندې راکوز شو، نو حسینه ګل خور بیا حیرانه وه او دا تپوس یې کولو چې نایاب څه شو؟ او چې یو ملګری بیا ورته وویل چې هغه نایاب دی، نو بیا څه لپاره د هغه تپوس کوی؟ په دې خبره یو ځل بیا ټول په خندا شو. په دې موقع هر یو شاعر زمونږ میلمستیا کول غوښتل او مونږ ته یې بلنه راکوله، خو زمونږ عذر دا و، چې مونږ د استاد یون صاحب میلمانه یو او د هغه د اجازې پرته هیچرته نه شو تللی او چاریې ښه چې ملګرو به زمونږ غذر قبول کړو، خو بیا هم هغوی مونږ ته ډیره مینه راکوله البته ښاغلي پیرمحمد کاروان صاحب یوه منځنۍ لاره وو یسته ویل یې که د ډوډی میلمستیا مو د یون صاحب سره ده، نو بیا به زما سره چای څښئ او خبره چې د چایو راغله نو په افغانستان کې مونږ توري چای بیخي کمې ولیدې ورسره د څښلو او به هم عامې کمې لاس ته راتلې البته هرخاص وعام فلټر شوې د

ketabton.com - The Digital Library

بوتلونو اوبه څښلې چې په ډيره کمه بيعه لاس ته راتلې په هرځاى کې به خلکو د بوتلونو اوبه استعمالولې.

د پيرمحمد کاروان صاحب فن او شخصيت دومره خوږ او د قدرور و چې ملګرو ورته انکار نه شو کولی او بيا يې مونږ ګلبهار هوټل ته بوتلو د ټولو ميلمنو لپاره يې د چايو بندوبست وکړو، چې پکې بعضې مقامي ملګري هم شامل شو. د چايو سره يو شمير نور خوراکونه هم راوړل شو او يوه شيبه مونږ د چايو د خوند تر څنګ د کاروان صاحب علمي ادبي خبرې او خاطرې واوريدې او کله چې خبر شو چې زما (ليکونکي) تعلق د پښتو ورځپاڼې وحدت سره دی. نو ډير خوشحاله شو او ويل يې چې وحدت اخبار سره مې دومره مينه ده چې يو وخت داسې هم و چې زه به مياشت پس د خوست نه ميران شاه ته راتلم نو د يوې مياشتې اخبارونه به مې يو ځاى له ځانه سره وړل او بيا به مې لوستل ځکه چې دغه وخت خوست ته وحدت اخبارونه نه راتلل.

کاروان صاحب د خپل فن او شخصيت دواړو په حواله خپل يو ځانګړی خوږلت او شخصيت لري زمونږ د ټولو ملګرو يې ډير په ورين تندي ملتيا او ميلمستيا وکړه او بيا چې کله ترې

ketabton.com - The Digital Library

مونږ د ژوندون ودانۍ ته حرکت وکړو نو ډیر په مینه او عزت یې رخصت راکړو.

کله چې خپلې کمرې ته راغلو نو دلته د پښتو لوی څېړونکي لیکوال او پوهاند استاد زلمی هېواد مل زمونږ په انتظار و د هغه سره مو ولیدل او ښه شیبه مو سره په بېلا بیلو ادبي او علمي موضوعاتو خبرې وکړې. ښاغلي له ما څخه د بخاریانو په هکله معلومات وغوښتل، ځکه چې هغه د هغو بخاریانو په هکله څېړنه کوله کومو چې د پښتو ادب خدمت کړی دی. په دې مهال زلمي لیکوال نورولی سعید شینواري زنګ ووهلو ویل یې چې نن د شپې ډوډی به مو زما سره وي. مونږ ورته خپل عذر وکړو، خو ویې نه مانه او باالاخر مونږ ورغلو او چې مونږ ورغلو نو په ډیره مینه یې زمونږ هرکلی وکړو او د ټولو ملګرو تپوس یې وکړو، بیا یې ګلبهار هوټل ته بوتلو او هلته یې زمونږ د ملګرو میلمستیا وکړه ماخوستن ترې مونږ رخصت واخستو او د ژوندون مانۍ ته راغلو دلته نن د شپې مهال د افغانستان د ملي تحریک له طرفه د پښتنو او بلوڅو سره د پیوستو ورځې په ویاړ د یوې غونډې او جشن تابیا شوې وه، چې په ډیر ګڼ شمیر کې ورته خلک راغلي وو. په دوی کې نومورړي پوهان، لیکوالان. ژورنالستان، شاعران، هنرمندان، سیاستوال او په

ketabton.com - The Digital Library

ملت مین عام وګړي شامل وو. ګیرچاپیره بلپونه لګیدلي وو او دغه دستوره د ژوندون تلویزیون د لارې نیغ په نیغه ښودلې شوه. نو د دې لپاره لویې لویې کیمرې هم لګیدلې وې. په سرکې یو شمیر وینا کوونکیو ویناوې وکړې یون صاحب د پښتنو او بلوڅو په تاریخ او یو والي وغږیدو څو شاعرانو شعرونه واورول او بیا هنرمندانو د خپل هنر په زریعه انقلابي ترانې او نغمې زمزمه کړی په دې ټولو مصروفیاتو کې زلمي شاعر او ادیب فرید احمد تسکین زمونږ سره ملګری و چې زمونږ رهنمايي به یې کوله او د لیکوالو شاعرانو هنرمندانو او نورو ملګرو پیژندګلو به یې راسره کوله. د شپې ناوخته دا دستوره پای ته ورسیده او بیا چې مونږ خپل استوګن ځای ته راغلو نو تر ناوخته ویښ وو او د کابل د دې تاریخي او یادګار سفر ښې خاطرې مو په ذهنونو کې په غورځنګونو وې.

مونږ چې کله په اول ځل د طورخم په لاره را دخل شو، نو په ټول افغانستان کې څو ورځې وړاندې په ۱۹ اګست ۱۰۱۳ د استقلال یا ازادۍ او خپلواکۍ ورځ تیره شوې وه، ځکه نو هرطرف ته د ملي بیرغ تور سور او شین رنګونه جوت وو، په هر مخ د خوښۍ اثرات څرګند وو د بیرغ سره دومره مینه خلکو لرله چې په دوکانونو کورونو بازارونو لارو کوڅو او نورو اولسي

ketabton.com - The Digital Library

مقاماتو کې به اویزانـد وو بعضې خلکو تـرې پګړۍ او پټکي جوړ کړي وو. هر څوک به ورته ډیر خوشحالیدل او حتی په بعضې ځایونو کې مو ولیدل چې خلک خصوصا ځوانان ورته ګډیدل او خلکو به ملي بیرغ ښکلولو بیا مو دا هم ولیدل چې په پنځه ورځو کې مـو د پنځه سـانحو د پـاره د بجلۍ (برېښنا ) نیشتوالی نه دی لیدلی او برق پکې پریمانه وو دا هم د افغانانو خوش بختي ده، چې د برېښنا شتون یې په برخه دی ځکه چې نن سبا د برېښنا نه بغیر ژوند ګران دی. ولې چې هرڅه د بریښنا په زریعه پرمختګ کوي او د ژوند ډیر کارونه د برق د لارې روان دی که چیرې برق نه وي نو دغه ټول کارونه به په ټپه ودریږي غرض دا چې برق د ژوند لپاره اوس د لازمي جز حثیت خپل کړیی او که دغه نعمت نه وي ژوند به نیمګړی وي. په دې لحاظ سره افغانان ډیر نیکمرغه دي چې دا نعمت ورته په برخه دی.

سهار چې مونږ د چایو نه اوزګار شوو نو د زلمي شاعر جلال امرخیل سره یو شمیر نور شاعران زمونږ سره د لیدو کتو په خاطر راغلی وو، چې په هغوی کې انعام الله ګوهر، عمادالدین دوران او یو شمیر نور ملګري شامل وو د هغوی غوښتنه وه چې مونږ نن د هغوی میلمانه شو خو زمونږ وخت پوره شوی و او واپس تګ هم ضروري و په دی خاطر مو ترې رخصت وغوښتو

ketabton.com - The Digital Library

سره د دې چې جلال امرخيل ډير زور وکړو چې مونږ پاتې کړي تر دې پورې چې ويل يې تا سو زه پخپل موټر کې د طورخم پورې رسوم او آخري يې تر دې وويل چې غرمه به زمونږ سره تيروی خو زمونږ ملګری مجبور وو ځکه چې بعضې ملګري سرکاري نوکران وو او د هغوی رخصت پوره شوی و او سبا ته يې حاضری ضروري وه، ځکه نو په ډيره مجبوری سره مو ترې رخصت راوخستو که څه هم د غه ملګري لږ خفه هم شو، خو زمونږ مجبوري هم مهمه وه او بيا سهار نهه بجې مو د کابل نه حرکت وکړو.

استاد يون او د ده د ژوندون تلويزيون ټولو کارمندانو مونږ په ډير غزت او درناوي سره رخصت کړو او زمونږ ملګرو داسې محسوسول لکه چې د خپل لوی کور نه مونږ واپس روان شوو د کابل ټول يادونه مو په زړه کې ځای کړي وو په ټوله لاره د دغو کوربنو او ټولو شاعرانو ليکوالو او عامو وګړو زمونږ د ملګرو د خدمت او ميلمستيا خاطرې مو په زړونو کې وې او دا مو ويل چې مونږ په د دوی دا مينه جذبه او دا خدمتونه کله هم هير نه کړو هم په دغو خوږو خاطرو کې ماسپښين جلال آباد ته راورسيدو د ملګرو خيال و چې دلته به د امير امان الله خان، استاد ملنګ جان او د ستربابا فخر افغان خان عبدالغفارخان

ketabton.com - The Digital Library

مزارونو ته لاړ شو، تر څو د دوی زیارت هم وکړو او ورته دعا هم خو زمونږ موټروان را سره ملګرتیا نه کوله ګنې مونږ ورته ویل ګوره تا سره دا خبره شوې ده، چې جلال آباد کې به دوی لږ ما تلیږي او زیارتونه به کوي، خو هغه نه منله زمونږ بعضې ملګرو هم ویل چې ناوخته کیږی او زیارتونه نه کوو خو بعضې ملګرو خصوصا عبدالرحمان افغانیار، جان محمد رزګر او شیرالرحمان بیتاب ویل چې زیارتونو ته خامخا ځو او بیا هم داسې وشو. موټروان مو رخصت کړو او مونږ اول د امیرحبیب الله خان او امیرامان الله خان قبرونو ته لاړو دوی ته مو دعا وکړه بیا د ملنګ جان قبر ته لاړو هغه مو ولیدو، چې ډیر د خسته حالۍ سره مخ و، خو اوس ویلی شي چې د استادیون له اړخه دغه قبر دوباره جوړ شوی دی.

د دې نه پس شیشم باغ په طرف د باچاخان مزار ته راغلو دلته د بابا لوی کور دی ورسره ښه کافي ځای دی، خو اوس مهال د نوې ودانۍ کار شروع و چې ډیر په لویه پیمانه کیږي دا کار په ډیرې تیزۍ سره روان دی او په دې کې لایبریرې ( کتابتون ) میلمستون. د باچاخان د اثارو د پاره ځانګړی ځای او داسې نورې برخې شاملې دي.

ketabton.com - The Digital Library

د دغو ټولو مشرانو زيارتونه مو ډير په ښيره سره وکړل ځکه چې مونږ ته د ګمرک چارواکي په انتظار وو زمونږ لپاره يې د ډوډۍ بندوبست کړی و ، په دغه اساس چې د جلال آباد نه د طورخم په طرف روان شوو نو تقريبا دريِ بجې وې چې مونږ د طورخم ګمرک ته راورسيدو دلته د ګمرک چارواکي زمونږ په انتظار ستړي شوي وو ، ځکه چې دريِ څلور ساعته انتظار يې کړی و ، چې ډير ګران کار دی. په دغه ورځ د دوی رخصتي هم وخته وي خو زمونږ لپاره ناست وو چې مونږ يې مننه هم وکړه او بخښنه مو هم ترې وغوښته چې زمونږ په وجه تاسو دومره اوږد انتظار وکړو. کور يې ودان ويل يې هيڅ خبره نه ده تاسو ميلمانه یاست ستاسو په مونږ ډير حق دی او هر يو ملګري د دې هڅه کوله چې کم نه کم خوراک وکړي او زر تر زره ځان اوزګار کړي ځکه چې وخت کم او سفر زيات وو هم داسې وشو او په يو څو منټونو کې مو ډوډی وخوړه او بيا مو د ګمرک له چارواکو څخه اجازه واخسته د خدای په اماني وشوه او يو مامور يې زمونږ سره ملګری کړو ، چې د هغه دا زمه واري وه ، چې موټر ونيسي او مونږ پېښور ته ورسوي دغه ملګري زمونږ لپاره يو نوی موټر ونيولو او موټروان يې پوهه کړو ، چې ميلمانه دي په غذاب يې نه کړې او پېښور ته يې ورسوه.

ketabton.com - The Digital Library

مازديګر مو د طورخم څخه حرکت وکړو د موټروان سره مو خبرې اترې وکړې نو معلومه شوه، چې هغه د خاطر افريدي مرحوم خوريې و. که څه هم د شعر او ادب سره يې ډيره علاقه نه وه، خو بيا هم د خاطر افريدي په شعرونو مين و او کله چې مونږ د خيبر په خړو غرونو کې راتيريدو نو ما ته يې د خاطرافريدي دا شعر بيا رایاد شو چې:

د خاطر رنګين غزل ته حيرانيږم

په دې خړ خيبر کې څه دي بې له خاورو

او بيا چې د خيبر په دره راواوښتو نو دا شعر مې له ځان سره زمزمه کړو چې:

د خيبر دره خو لار د تلو راتلو ده

په کابل او پېښور کې افغان يو دی

پـه لاره کـې ډيـر خنـډ ان او مشـکلات موجـود وو، ځکـه چـې د سړک جوړولو کار شروع شوی دی د دی وجې نه اکثرو ځايونو کـې ګڼې لارې بـدليږی او پـه کچـه لارو تـګ وي، خـو زمـونږ موټروان ډير پوهه و دا سې لارې ورته معلومې وې چې مونږ يې

ketabton.com - The Digital Library

په ډېر لږ وخت کې پېښورته راورسولو کله چې د کارخانو او بیا د حیات آباد وادنۍ مونږ ولیدې نو بیخي د کابل تصویر مو په زړه شو دلته او هلته یو شان خلک یو شان کړه وړه رسم ورواج او یو شان ودانۍ دلته دا خبره هم باید وکړم، چې کله مونږ کابل ته روانیدو، نو مونږ د کابل یو وحشي او کنډر کنډر تصویر په ذهن کې وړی و. کوم چې مونږ ته تړیوالو رسنیو راکړی و، په کوم کې چې مونږ د کابل وجود زخمي زخمی لیدلی و. په کابل کې د انسانیت هډو تصور نه و هلته د قتل وغارت بازار ګرم و هلته هر څوک جلاد و د هر چا سره توره او ټوپک په لاس کې و بمونه او مړدکي د هغوی مشغولا وه چاودني او وژني یې روزګار و. تباهي او بربادي یې پیشه وه جوړې ودانۍ ړنګول یې خپل مسولیت ګرزولی و د انسان وینه توېول یې د افتخار باعث ګڼل د بیا ودانۍ تصور پکې معدوم و د نوي کهول لپاره د ذده کړو او هنر لارې تړلې شوې وې بس په لنډه به داسې ووایو چې کابل قصاب خانه وه...

کله چې مونږ د دغه انځور سره د کابل په ځمکه قدم کیښودو، نو مونږ ته دغه انځور بیخي دروغژن ښکاره شو او دغه ټول تبلیغات شنډ وختل کابل کې خو یو نوی انځور او نوی ماحول و. دلته ژوند ډیر خوشحاله و. دلته امنیت و د خلکو ژوند

ketabton.com - The Digital Library

یې عادي و بلکې د کابل په بازارونو مارکیټونو او هوټلونو کې خو داسې محسوسیدل لکه چې مونږ د پیرس په بازارونو کې سیل کوو. کابل اوس د پیرس په طرز ترقي کړې ده او کله چې ما د کابل دغه پر مخ تللی او حقیقي تصویر ولیدو، نو دغه دروغژن او وحشي انځورمې وغورزولو او ما هغه تصویر په زړه کې راوړو کوم چې ما د سر په سترګو لیدلی و او هغه بیخي د پښتنولۍ تصویر دی. هم د دغه تصویر سره زمونږ سفر دوام درلود، چې عین د ماښام د بانګونو سره مونږ د رینګ روډ په لاره د قمردین ګړهۍ پل ته راورسیدو چې د کوهاټ په روډ واقع دی.

دا هغه مقام دی چې د کوهاټ ګاډي د پېښور نه راځي مونږ موټروان ته د اودریدو وویل او بیا مو د لطیف شاه شاهد، وارث خان نایاب او خور حسینه ګل نه اجازت واخستو. اګر چې هغوی مونږ ته ویل شپه زمونږ سره وکړئ، خو مونږ ورته خپل عذر وړاندې کړو او بیا مو ترې رخصت راواخستو او زه او اعجاز خټک صاحب د کوهاټ په طرف روان شوو او تیر ماخوستن کورونو ته په خیر خیریت او خوشحالۍ سره راورسیدو.

ketabton.com - The Digital Library

دلته دا یادونه هم باید وکړم، چې یو شمیر ملګري لکه عبدالرحمان افغانیار جان محمد زرګر او شیرالرحمان بیتاب زمونږ نه په جلال آباد کې پاتې شوي وو. چې بیا وروستو راغلل او مونږ چې کله راغلو نو تر او سه پورې مو د کابل د سفر ټولې خاطرې په زړونو او ذهنونو کې خوندي دي. په دی هیله چې الله تعالی دې افغانستان یو د امن او سوکالۍ هېواد جوړ کړي اوس چې دلته ټولنه ټولنتیاکنې هم وشوې او د ناټو عسکر هم تللی دي. نو باید چې ټول افغان ملت نړیوال او ګاونډیان یې د دې هېواد د بیا ودانۍ او پرمختګ لپاره خپله خپله برخه کردار ولوبوي. تر څو لکه د کابل ټول افغانستان یو پر مخ تللی هېواد وګرځي. ټول افغان مهاجرین هېواد ته بیرته راشي او نور د پردیو د نوکرۍ او زور زیاتي څخه وژغورل شي د افغانستان تاریخ او تمدن د ټول جهان د پاره مهم دی باید چې د دې اهمیت په خاطر افغان اولس د خپل هېواد د بیا رغونې او ساتنې د پاره په یو اتفاق کار وکړي چې دلته بیا د نړۍ سیلانیان رامات شي او د افغانستان په تاریخي اثارو او قومونو نورې څېړنې او لیکنې وشي، سفرنامې اولیکلی شي او د افغانستان پخوانی او اوسنی انځور نړی ته وښودل شي. د افغانستان دا سفر به تل زما

ketabton.com - The Digital Library

په زړه او ذهن کې خوشګواره او زړه راکښونکې خاطرې ژوندۍ ساتي او ما به د افغانستان سفر ته بیا بیا هڅوي...

دلته به دا هم د یادوړ وي؛ چې د ښاغلي اسمعیل یون سره مې یوه لنډه شان مرکه کړې چې بیا په ورځپاڼه وحدت کې خپره هم شوه، دلته یې تاسو درانه لوستونکي هم ولولی:

استاد پوهنوال محمد اسماعیل یون معروف لیکوال، مفکر، سیاستوال، ژورنالسټ او د ژوندون تلویزیون او د افغانستان ملي تحریک مشر دی. هر وخت په خپلو فعالیتونو کې بوخت وي او د چا خبره چې د سر ګرولو وخت نه لري، خو هر کله چې زه د کابل په یکه توت کې د هغه دفتر ته لاړم او د مرکې کولو لپاره مې ترې وخت وغوښتو نو په ډیر ورین تندي یې وویل ولی نه!

او بیا یې خپلو مامورانو ته وویل چې هر څوک راځي لږ یې ماتل کوئ! تر څو زما مرکه وشي. خلک یې هم بند کړل زما سره یې په ډیر تفصیل سره خبرې وکړې او د هر سوال ځواب یې په بشپړ ډول راکړو.

زما لومړی پوښتنه د ژوندون تلویزیون په لړ کې وه.

ketabton.com - The Digital Library

یون صاحب وویل تاسو ته پته ده چې موجوده وخت د میډیا دی او بیا د پښتو میډیا خو ډېر ارزښت لري او هغه هم ټي وي چینل ته. ما هم په دغه اساس پنځه کاله وړاندې د پښتو ټي وي چینل لپاره هلې ځلې پیل کړې او ځمکه مې پیدا کړه بیا مې پرې ابادي وکړه او د وخت د تقاضو سره سم او هماهنګ الات مو پیدا کړل او د تجربه کارو او تعلیم یافته زلمیو یوه ډله مو برابره کړه، چې درې کاله کې دغه پروسه سرته ورسیده او بیا څه د پاسه دوه کالونه وړاندې ژوندون ازمایشي نشرات پیل کړل، چې دورانیه یې اول دوه ساعته بیا څلور بیا اته او اوس مهال څلیریشت ساعت ته ورسیده، زمونږ په خپرونو کې ادبي، مذهبي، اسلامي، کلتوري، تعلمي، هنري، سیاسي او د ژوندون په هر اړخ بحثونه کیږي او ژوندون لومړی ټلي ویژیوني شبکه ده، چې خپل دفتر خپل الات. ځانګړي ماموران او کارمندان لري، چې ټول تعلیم یافته او د نوي دور د ټیکنالوژۍ څخه د ګټې جوګه دي.

یون صاحب وویل چې ما د خپل کار شروع په څلورسوه ډالرو کړې وه او اوس مهال زمونږ اداره په سلو کې اتیا فیصده ضرورتونه پوره کوي. پاتې د ملګرو په مرستو سرته رسوو او د

ketabton.com - The Digital Library

ټلي ويژيوني شبکې ټول مصرفونه زمونږ پښتانه ملګري پوره کوي چې زه يې د خپلې ژبې او کلتور سره د دغې مينې قدر کوم.

يون صيب وويل چې زمونږ هدف د پښتون قوم بيدار اول باسواده کول او د جنګونو څخه ژغورل دي او مونږ پخپلو سپڅلو مقصدونو کې بريالي شوي يو ، اګر چې په دې لار کې مونږ د بېلا بېلو ستونزو سره مخ يو او د ګواښونو لاندې يو. هر وخت مو سرته خطر دی خو بيا هم خپل کارمو په چټکتيا سره روان ساتلی دی،

ما ويل يون صيب تاسو د ملي تحريک په نوم يو ګوند هم جوړ کړی دی. د دې موخه څه ده؟

نو يون صيب وويل چې په موجوده وخت کې پښتانه تار تار دي. د دوی راغونډول او په سياسي عمل او د بيا رغونې په کارونو کې برخمن کول په راتلونکيو ټولټاکنو کې د دوی د رول او ارزښت زمونږ بنيادی مقاصد دی. او تر اوسه پورې زرګونو ځوانانو زمونږ سره په ملي تحريک کې غړيتوب تر لاسه کړی دی او ډير په تيزۍ سره په وړاندې روان دی چې په راتلونکيو صدارتي ټاکنو کې به يو مناسب پښتون مشر تابه ته خپله رايي ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library

یون صیب وویل چې تحریک به د افغانستان کورنیو او ټولې نړۍ کې مشیتو پښتنو د ستونزو هواري لپاره وخت په وخت سمینارونه، بحثونه او په لویه پیمانه غونډې کوي، چې د نړۍ د هر ملک نه به ورته پښتانه پوهان رابللی شي او د خپلو ستونزو د هواري لپاره به خپل فکر زمونږ سره شریکوي، ده وویل چې د نن پښتون قوم بنیادي مسله د تعلیم، نشتوالی، د پردي جنګ کورته راوړل او خپل منځي اختلافات دي چې مونږ به د دغو مسلو د هوارولو لپاره هر لړ هڅې کوو د لر او بر پښتون ستونزې یو شان دي باید په یوه خله د خپلو ستونزو د هوارولو لپاره کار وکړو،

د یون صیب په خیال د افغانستان او سیمې د جنګ ختمولو لپاره هم دغه بنیادي تګلاره ده. ده وویل چې اولس مشر حامد کرزی حاضر وخت د شمالي ټلوالې د اثر لاندې دی او د پښتون قوم او ژبې لپاره یې هیڅ کار نه دی کړی او د نورو قومونو او ژبو خدمت ته یې کار ویلی دی،

یون صیب دا هم وویل چې په راتلونکیو ولسمشریزو ټاکنو کې باید د افغان کډوالو لپاره د رایې ورکولو موقعې برابرې کړی شي، چې دغسې به فایده پښتون

ketabton.com - The Digital Library

ولسمشر ته ورسي، ولی چې په خارج کې زيات پښتانه کډوال مشته دي.

ده دا هم وويل چې زمونږ په اطرافو کې پښتانه اباد دي چې دوی د بعضې قوتونو له خوا د تعليم څخه بې برخې ساتلی شي او پردي جنګونه پرې تپلی شي خو خپل پښتانه هم په دغه جرم کې ورسره ککړ دي. کوم خلک چې تعليم وکړي هغوی کابل او اروپا ته لاړشي د ارامی ژوند تيروي او عام وګړي جنګونو او جهالت کې پريږدي. بايد دغه ټول وګړي باسواده او له جنګونو څخه وژغورلی شي.

ده وويل طالبان او نور مخالفين بايد په سياسي عمل کې برخه واخلي او د هېواد لپاره خدمت وکړي.

ده وويل چې ما د **۳۵** نه زيات کتابونه په بېلابېلو موضوعاتو ليکلي دي. بايد دغه ولوستل شي. چې هر چا ته خپله څهره ښکاره شي، ده زياته کړه، چې د افغانستان دولت ته پکار دي چې د افغان کډوالو لپاره زمينه برابره کړي ترڅو دوی خپل هېواد ته واپس راشي او نور د پردو د غلامۍ څخه نجات ومومي. ده زياته کړه چې ملي تحريک به د ټول افغان ملت د ذده

ketabton.com - The Digital Library

کړو او سو کالۍ لپاره کار کوي او ژوندون ټلوېزيون به يې د لارې مشال وي بايد پښتانه په دغه رڼا کې خپل مرام ته ځان ورسوي، ځکه چې د ملي تحريک هر زلمي سره د علم رڼا ده او رڼا هره تياره لرې کوي، تمبوي او تښتوي يې د جنګ څخه کرکه او نفرت کوي د امن او مينې اخوت او صداقت پرچار کوي او د خپل ګران افغانستان د بيا ودانۍ او د زلمي کهول د تربيت مسوليت په غاړه لري، او خپل افغان ملت د جنګونو د غذاب څخه ژغوري.

استاد يون وويل چې ټول افغان ملت ته زما دا پيغام دی چې ملي تحريک د بيرغ لاندې راجمع شي، ترڅو د نړۍ د نورو قومونو په څير خوشحاله او سوکاله ژوند تيرکړو او د جنګونو څخه نجات ومومو.

په هر صورت له استاد يون څخه مو لږ وخت غوښتلی و، خو چاريې ښه چې تر څو پورې مې پوښتنې کولې په اطمينان سره يې ورته ځوابونه ويل خو ما سره د هغوی د مصروفياتو او د راتلونکيو ميلمنو د انتظار احساس و، ځکه چې ورسره خبرې راالنډې کړې وی.خو په دغه دوران کې خبرشوم چې يون صيب په پېښور کې هم ډير وخت تيرکړی دی او د ده لهجه او کړه وړه بيخي پېښوري وو. د دې نه علاوه هم يو شمير خارجي

هېوادونو ته يې سفرونه کړي دي. د رښتيا خبره دا ده چې ډېر مناسب او موزون شخصيت دی. بلکه داسې به ووايم چې:

د جينۍ رنګ د درلينو دی

که مرګي پرېښود د کابل منهٔ به شينه

که چېرې افغان ملت په ده راټول شي نو ډېر ښه مثبت سوچ لري او د افغانستان جنګونو ته د پای ټکی کېښودلی او ملت له سوکالۍ سره مخ کولی شي.

پـــای

ketabton.com - The Digital Library

# له کوتله تر کابله

فیروزخان صادق

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۳۳

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*